

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# ساينس، روغتيا او د ژوند چاپيريال

## ځلورم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: 1389هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

TM TM TM TM

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. په
بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. له
سرغړونکو سره قانوني چلن کېږي.

TM TM TM TM

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ساینس، روغتیا او د ژوند چاپیریال

## څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

## مؤلفان:

- پروین قاریزاده لعلي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د بیالوژي دیپارتمنت علمي او مسلکي غړې او آمره.
- عبدالکریم "روکي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د کیمیا دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی او آمر.
- علی الله "جلیل" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د بیالوژي دیپارتمنت علمي اومسلکي غړی.
- میرسیف الله "هاشمي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ساینس دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
- رابعه "منصور " د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د فزیک دیپارتمنت علمي او مسلکي غړې او آمره.
- عبدالودود "فیضي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د فزیک دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
- صادق حسین "موحدي" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د فزیک دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

## پوهنې وزارت:

- عتیق احمد شینواری، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د کیمیا او بیالوژي دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
- معین جان، د ښوونکي د روزنې غړی.
- ښوونوال نبي داد، د ساینس مرکز د ریاست علمي غړی.
- ښوونمل عبدالقیوم مهربان، د ساینس مرکز د ریاست علمي غړی.
- پوهندوی غلام نبي واحدي، د ساینس او تعلیمي تکنالوژۍ د مرکز رئیس.
- عبدالکریم روکي، ژباړونکی.

## د محتویاتو، دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین. دکمېټې رئیس

ـ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library




## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي یې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کــور دی — د بلوڅــــو د ازبکــــو
د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، ګوجـــر دي — پامیـــریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایمـــاق، هم پشـه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي — لکـــه لمـــر پر شنه آسمـان
په سینــه کې د آسیـــا به — لکـــه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مودی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړی څپرکی** | |
| ۱- | **ژوندي موجودات** | ۱ |
| ۲- | پنځه ګوني حسونه | ۳ |
| ۳- | د سامعې ( د اوریدو) حس | ۳ |
| ٤- | د باصرې (دلیدو) حس | ٥ |
| ٥- | د شامې (دبویولو) حس | ۷ |
| ٦- | د ذایقې (دخوند) حس | ۹ |
| ۷- | د لامسې حس | ۱۱ |
| ۸- | حیوانات | ۱۳ |
| ۹- | اهلي حیوانات | ۱۳ |
| ۱۰- | وحشي حیوانات | ۱٥ |
| ۱۱- | نباتات | ۱۷ |
| ۱۲- | ریښه | ۱۹ |
| ۱۳- | ساقه | ۲۱ |
| ۱٤- | پاڼه | ۲۳ |
| ۱٥- | ګل | ۲٥ |
| ۱٦- | میوې او دانې | ۲۷ |
| | **دویم څپرکی** | |
| ۱۷- | **رڼا او تودوخه** | ۲۹ |
| ۱۸- | تودوخه | ۲۹ |
| ۱۹- | د تودوخې رامنځته کوونکې سرچینې | ۳۲ |
| ۲۰- | د تودوخې اغیزې | ۳٥ |
| ۲۱- | د تودوخې د درجې اندازه کول | ۳۷ |
| ۲۲- | د رڼا او لیدو ترمنځ اړیکې او د رڼا سرچینې | ٤۰ |
| ۲۳- | سیوری | ٤۳ |
| | **دریم څپرکی** | |
| ۲٤- | **ماشینونه** | ٤٦ |
| ۲٥- | ساده ماشینونه | ٤۹ |
| ۲٦- | مرکب ماشینونه | ٥۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| | **څلورم څپرکی** | |
| **-۲۷** | **څمکه** | **۵۵** |
| -۲۸ | د څمکې پر سطحې بدلونونه او منظرې يې ............................... | ۵۸ |
| | **پنځم فصل** | |
| **-۲۹** | **خواړه** | **٦١** |
| -۳۰ | ميوې ..................................................................................... | ٦٣ |
| -۳۱ | سابه ....................................................................................... | ٦٥ |
| -۳۲ | حبوبات .................................................................................. | ٦٧ |
| -۳۳ | غوښه .................................................................................... | ٦٩ |
| -۳٤ | خوار ځواکي (سوء تغذي) ........................................................ | ۷۱ |
| | **شپږم څپرکی** | |
| **-۳۵** | **نظافت او پاکوالی** | **۷۳** |
| -۳٦ | د خوړو پاک ساتنه ............................................................. | ۷۵ |
| -۳۷ | د بدن پاکوالی (نظافت) ....................................................... | ۷۷ |
| -۳۸ | د جامو پاکوالی .................................................................. | ۸۰ |
| -۳۹ | د کور او چاپېريال پاکوالی ................................................... | ۸۲ |
| | **اووم څپرکی** | |
| **-٤۰** | **ناروغی او عوامل يې** | **۸٤** |
| -٤۱ | د ناروغی ليږديدنه.................................................................... | ۸٦ |
| -٤۲ | د ناروغی مخنيوی .................................................................. | ۸۸ |
| -٤۳ | د ايډز ناروغي (HIV/AIDS) ......................................... | ۹۰ |
| | **اتم څپرکی** | |
| **-٤٤** | **لومړنی مرستې** | **۹۲** |
| -٤۵ | ټپي کيدل ............................................................................ | ۹٤ |
| -٤٦ | سوی، سوځيدل .................................................................. | ۹٦ |
| -٤۷ | د هډوکي ماتيدنه .................................................................. | ۹۸ |
| -٤۸ | ضربه (ګوزار) او د هډوکي راوتل او بيځايه کيدل ................. | ۱۰۰ |
| -٤۹ | مارچيچلی ........................................................................... | ۱۰۳ |
| | **نهم څپرکی** | |
| **-۵۰** | **د ژوند چاپيريال** | **۱۰۵** |
| -۵۱ | اوبه ...................................................................................... | ۱۰۵ |
| -۵۲ | هوا ....................................................................................... | ۱۰۷ |
| -۵۳ | خاوره .................................................................................. | ۱۰۹ |
| -۵٤ | د ژوند له چاپيريال څخه سمه ګټه اخيستنه ............................. | ۱۱۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی
## ژوندي موجودات



موخه:

زده کوونکي باید ژوندي موجودات وپیژني.

**د زیرکتیا د رامنځته کولو پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره ژوندي موجودات کوم دي؟

۲- څه فکر کوئ چې نباتات په ژوندیو موجوداتوکې شمیرل کیږي؟

۳- د یو ژوندي موجود په توګه د انسان په هکله څه فکر کوئ؟

د زده کوونکو فعالیتونه




- د پورتنیو شکلونو له مخې د ژوندیو موجوداتو لست ترتیب کړئ.
- د زده کوونکو یوه ډله دې د څو ژویو نومونه ولیکي.
- د زده کوونکو بله ډله دې د څو نباتاتو نومونه ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ژوندي موجودات يو له بل سره ګډ خاصيتونه او ځانګړني لري، لکه: تغذيه، تنفس، تکثر(ډېروالی) او نور.
- ژوندي موجودات په دوو سترو ګروپونو، يعني حيوانات او نباتات ويشل شوي دي.
- انسان هم د حيواناتو له جملې څخه دی چې په زياترو اړخونو کې سره ورته والی لري.
- خدای (ج) انسان اشرف المخلوقات پيداکړی دی او هغه ته يې د عقل او خبرو کولو قدرت ور په برخه کړيدی.
- لايزال خدای (ج) انسان ته دا توان ور په برخه کړی دی چې خپل چاپيريال د پنځه ګونو حواسو په وسيله احساس او وپيژني.
- پنځه ګوني حواس د اوريدو حس، ليدو حس، بويولو حس، ذايقي (خوند) حس او د لامسې له حس څخه عبارت دي.




**ارزونه:**

١- ژوندي موجودات کوم ګډ خاصيتونه لري؟
٢- ټول موجودات په کومو سترو ډلو ويشل شويدي؟
٣- د انسان د پنځه ګونو حواسو نومونه واخلئ؟


**کورنۍ دنده:**

١- هغه شمير ژوندي موجودات چې له ښوونځي څخه ترکوره پورې په لاره کې وينئ، يادداشت کړئ.
٢- ولې انسان ته اشرف المخلوقات وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ګوني حسونه

## ۱- د اوریدو حس:






موخې:

۱- زده کوونکي باید د اورېدو ارزښت درک کړي.

۲- زده کوونکي باید د غوږ جوړښت وپېژني.

۳- زده کوونکي باید خپل غوږونه له زیان څخه وساتلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – آیا کاڼه ژبه زده کولای شي؟

۲ – څه فکر کوئ چې ټول حیوانات د اوریدو توان لري؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- ولیکئ چې یوکوڼ (نه اوریدونکی) ماشوم ولې خبرې زده کولای نشي.
- هغه غږونه چې له چاپیریال څخه ستاسو غوږونوته رسیږي تشخیص او هغه ولیکئ.
- د یو بل غوږوته ځیر شئ او ووایاست چې څه ډول باندنی جوړښت لري؟
- که چیرې په یوه نري کاغذ باندې د قلم څوکه، تیره شی، میخ او یا داسې نور شیان ولګیږي، څه به پیښ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د غوږ په وسیله د هرشي غږ توپیرولای شو او له ځینو خطرونو، لکه: ځیروونکو حیواناتو، لیږدوونکو وسایلو، توپان، سیلاب، زلزلې او داسې نورو څخه ځان ساتلای شو.
- غوږونه د نورو د خبرو د اوریدلو او له هغوی سره د اړیکو د ټینګولو وسیله ده. کاڼه ماشومان د نورو په شان خبرې نشي زده کولای نشي.
- د غوږ باندنی برخه (د غوږ پکی) د یوې نازکې پردې په وسیله له منځني غوږ سره اړیکې لري، چې له هغه څخه غږ تیریږي او د غوږ دننه برخې ته رسیږي.
- د غوږ پرده خورا نرۍ ده، نو ځکه د غوږ د پاکولو په وخت کې د تیرې څوکو لرونکو شیانو د کارونې له امله سورۍ کیږي او د کوڼوالي سبب ګرځي. همدا شان لوړ غږ او ضربه هم غوږ ته تاوان رسوي.
- غوږونه دې د اوبو، خاورې، خزندو او نورو له داخلیدو څخه وساتل شي او د غوږونو د درملنې لپاره دې په خپل سر د درملو له کارولو څخه ډډه وشي.

**ارزونه:**

۱- غوږ له څو برخو څخه جوړ شوی دی؟ نومونه یې واخلئ.
۲- خپل غوږونه څرنګه له خطرونو څخه ساتئ؟
۳- اوریدل څه ارزښت لري؟




**کورنی دنده:**

۱- د انسان د غوږونو باندنی جوړښت د ژویو د غوږونو له جوړښت سره پرتله او توپیرونه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
۲- د خپلو غوږونو د ساتنې او ارزښت په هکله د خپلې مور، پلار او د کورنی د غړو معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲- د ليدو حس




**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د لیدلو په اهمیت باندې وپوهیږي.

۲- زده کوونکي باید د سترګو په جوړښت باندې پوه شي.

۳- زده کوونکي باید خپلې سترګې له زیان څخه وساتلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – د انسان په ژوند کې لیدل څه اهمیت لري؟

۲ – که چیرې ړانده وای کوم شیان مو زده کولای نشول؟

۳ – خپلې سترګې څرنګه له زیانه ساتلای شو؟

د زده کوونکو فعالیتونه



– د یو زده کوونکي سترګې وتړئ او ور څخه وغـوا ړئ چې په ټولګي کې په خپل ځای کښیني او د یو تن ټولګیوال د جامو رنګ وښیي.

– د یو او بل سترګو ته ځیر شئ او وګورئ چې سترګې څه ډول جوړښت لري.

– په یو لوښي کې پاکې اوبه واچوئ او خپلې سترګې په اوبو کې وغړوئ او پریمینځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

- د سترګو په وسیله د شیانو رنګ او تصویرونه درک کیږي.
- سترګې انسان خطرونو ته متوجه کوي.
- سترګې د کار او فعالیت په ترسره کولو کې ارزښت لري.
- سترګې دکرې په شان بڼه لري چې د سر دکاسې په ننوتلې برخه کې ځای لري.
- د سترګو پاسنۍ پردې چې بانه په کې شته او سترګې د خاورو او دوړو له ننوتلو څخه پاکې ساتي.
- د سترګې رنګ لرونکې برخه د عنبیې په نامه سره یادیږي او په منځ کې یې د کسي سوری واقع دی، چې د کسي په نامه یادیږي. له نوموړې سوري څخه نور (رڼا) له شیانو او اجسامو څخه سترګو ته رسیږي او د اعصابو په وسیله درک کیږي.
- تودوخه او یخني ، خاوره، فشار او میکروبونه سترګوته تاوان رسوي، نو ځکه باید په سترګو کې د هغوی له ننوتو څخه مخنیوی وشي.
- که چیرې خاوره او دوړې سترګوته ورننوځي باید په سترګو باندې فشار رانه شي او په اوبو او یا سوړ شوي چای باندې پریمینځل شي چې پاکې شي.

**ارزونه:**

۱. سترګې څه اهمیت لري؟
۲. کوم شیان سترګوته زیان رسوي؟
۳. د خپلو سترګو د مختلفو برخو په هکله مو له دې لوست څخه څه زده کړي دي؟


**کورنی دنده:**

۱- د سترګو د ساتنې په اړه د خپل پلار او مور معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۲- د لیدو د ارزښت په هکله هغه څه چې مو زده کړي دي په دریو کرښو کې یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳- د شامې (بویولو) حس



**موخې:**

۱-زده‌کوونکي باید د پزې په دنده پوه شي.
۲-زده‌کوونکي باید د پزې جوړښت بیان کړای شي.
۳-زده‌کوونکي باید د پزې په اهمیت وپوهیږي.
٤-زده‌کوونکي باید پزه له زیانونو څخه وساتلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- د موادو بوی څرنګه حس کوئ؟
۲- د خوړو له څکلو پرته څرنګه پوهیږئ چې وراسته شوي دي؟
۳- له پزې څخه کله ګټه اخیستل کیږي؟

د زده کوونکو فعالیتونه

- هغه ګلونه، میوې او سابه چې مو ترلاسه کړي دي، بوی کړئ او نومونه یې ولیکئ.
- د خپلو سپږمو سوري په دستمال بندکړئ او شیان بوی کړئ. آیا په دې حالت کې تاسې د شیانو بوی حس کولی شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د پزې اصلي دنده تنفس او بوی کول دي.
- پزه د موادو د پېژندلو لپاره د زيات اهميت وړ ده.
- پزه له دوو سوريو څخه جوړه شوې چې غضروفي (کرپنده) جوړښت لري.
- په پزه کې دننه کوچني وېښتان او لوندوالی شته چې د تنفسي هوا د پاکولو او تودولو لپاره ارزښت لري.
- که چېرې ستاسې پزې ته خاوره او دوړې ورننوزي، ژر يې په پاکو اوبو پريمينځئ.
- خپلې پزې له ګوزار، قلم او نورو شيانو څخه چې تيرې څوکې لري، وساتئ.

**ارزونه:**

۱- پزه کومه دنده لري؟
۲- پزه له زيانونو او ټکرونو څخه څرنګه ساتلای شئ؟
۳- د پزې جوړښت بيان کړئ.



**کورنۍ دنده:**
د پزې د اهميت په برخه کې څو کرښې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴- د ذايقې (خوند) حس



**موخې:**

۱- زده کوونکي بايد د ذايقې او د چاپېريالي (محيطي) موادو په پېژندلو کې د ژبې په ارزښت پوه شي.

۲- زده کوونکي بايد د ژبې په جوړښت وپوهيږي.

۳- زده کوونکي بايد خپله ژبه له زيانونو څخه وساتلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱– د خوړو د خوند په پېژندلو کې د بدن کوم غړی ارزښت لري؟

۲– ولې ځينې خواړه له ځينو نورو خوړو څخه زيات خوښوئ؟

۳– آيا ژبه د خوړو په خوند باندې له پوهېدو پرته کومه بله دنده هم لري؟

د زده کوونکو فعاليتونه



- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې شکل ته وګوري او ودې وايي چې ژبه څرنګه جوړښت لري.
- د زده کوونکو دويمه ډله دې د ډوډۍ يوه ټوټه وخوري او وروسته دې ووايي چې د هغې خوند د خولې په کومه برخه کې حس کيږي.
- د زده کوونکو دريمه ډله دې فکر وکړي او ودې ليکي چې ژبې ته کوم شيان زيان رسوي.



Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د ژبې په وسیله د خوراکي موادو خوند حس کېږي.
- ژبه د ترخو، تروو او خوږو د پېژندلو قدرت لري.
- د غذايي موادو خوند د ژبې په وسیله معلومېږي.
- ژبه غوښنه او بیضوي شکله عضله ده چې د خولې او غاښونو ترمنځ پرته ده. ژبه په خولې کې پرته او د ډوډۍ د ژوولو په عمل کې له غاښونو سره مرسته کوي. ژبه د خبرو وسیله ده.
- موږ باید خپله ژبه د ډوډۍ د ژوولو په وخت کې د غاښونو له چیچلو څخه وساتو او د ډیرو ګرمو خوږو څخه ډډه وکړو.


**ارزونه:**

۱- زموږ ژوندبه له ژبې پرته څرنګه وای؟
۲- څو ډوله خوند یا ذایقه پیژنئ؟
۳- د ژبې د ساتنې لاره کومه ده؟



**کورنۍ دنده:**

۱- د خوږو خوند په کوم حس باندې معلومېږي؟
۲- د ذایقې د حس ارزښت په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵- د لامسې حس




**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د لامسې حس وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د لامسې د حس په اهمیت پوه شي.

۳- زده کوونکي باید د لامسې د حس د ساتلو توان ولري.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره د بدن په کوم غړي د خپل شاوخوا شیان لمس کولای شو؟

۲ – که چیرې ستاسې سترګې تړلې وي، آیا کولای شئ میوې او نور شیان د ګوتو په لمس کولو سره وپیژنئ؟

**د زده کوونکو فعالیتونه**



- د خپل شاوخوا شیان او اجناس لمس کړئ، چې څه شی احساسوئ؟
- د یوه زده کوونکي سترګې وتړئ، یو شمیر شیان او جنسونه په لاس کې ورکړئ ترڅو ووایي چې څه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د انسان د بدن باندنۍ سطحه د پوستکي په وسیله پوښل شوې ده.
- د انسان د بدن پوستکی د چاپېریال د شیانو په پېژندلو کې مرسته کوي.
- د بدن د پوستکي په وسیله د شیانو نرموالی، سختوالی، تودوالی، سوړوالی، ښوي والي او زیږوالی حس کیږي او د تودوخې او سړښت اندازه د بدن د پوستکي په وسیله معلومیږي.
- د پورتنیو عواملو د تشخیص لپاره د ګوتو سرونه خورا ډېر حساس دي.
- موږ باید د خپل بدن پوستکی له سوځیدو، چاودیدو، څیریدو او ټپي کیدو څخه وساتو او د جلدي ناروغیو د مخنیوي لپاره باید خپل بدن په مناسبو وختونو کې پریمینځو او پاک یې وساتو.

**ارزونه:**

۱- د شیانو او جنسونو په لمس کیدو سره کوم شیان حسولای شو؟
۲- د خپل بدن پوستکی په څه ډول ساتلای شو؟
۳- ستاسې د لاسونو کومه برخه د نورو برخو په پرتله خورا حساسه ده؟

**کورنۍ دنده:**

- د لامسې حس ستاسې په ورځني ژوند کې څه ارزښت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیوانات (څاروي)



## ۱- اهلي حیوانات

**موخې:**

۱- زده کوونکي باید حیوانات وپېژني.

۲- زده کونکي باید د اهلي حیواناتو پر اهمیت باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – هغه حیوانات چې نوم یې پېژنئ، نومونه یې واخلئ.

۲ – ستاسې په نظر له اهلي حیواناتو څخه انسان څه ګټه اخلي؟




- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې د هغو حیواناتو نومونه ولیکي چې له شیدو څخه یې ګټه اخیستل کیږي.
- د زده کوونکو دویمه ډله دې ووایي چې له اهلي حیواناتو څخه په کومو ځایونوکې ګټه ترلاسه کیدای شي؟
- د زده کوونکو درېمه ډله دې څرګنده کړي چې کومو حیواناتو ته اهلي او کوموته وحشي وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

- حیوانات د ژوندیو موجوداتو له ډلې څخه دي چې په بیلابیلو ځایوکې ژوند کوي.
- ځینې حیوانات په وچه کې او ځینې یې په اوبو کې ژوند کوي او ځینې یې لکه د الوتونکو په څیر په هوا کې الوتنې کوي. سر بیره پردې ځینې حیوانات هم په وچه او هم په اوبو کې ژوند کوي چې د ذو معیشتینو په نامه سره یادیږي.
- حیوانات په اهلي او وحشي دوو ډلو ویشل شوي دي.
- هغه حیوانات چې د انسان لپاره ګټور دي او له هغوی سره یې مینه پیداکړې ده، لکه غوا، پسه، وزه، آس، اوښ، چرګ، سپی، پشو او نور د اهلي حیواناتو په نامه یادیږي.
- د پسه، غوا او وزې له غوښو، شیدو، وړیو او پوستکو څخه ګټه ترلاسه کیږي.
- د قره قل له پوستکي څخه دخولۍ جوړولو لپاره ګټه اخیستل کیږي او نړیوال شهرت لري.
- د کورنیو چرګانو له غوښې او هګۍ څخه هم د خوړو په توګه ګټه اخیستل کیږي.
- له آس، اوښ او خره څخه د بار او مالونو د لیږدونې لپاره ګټه اخیستل کیږي.
- نو ځکه باید ددغو حیواناتو د خوړو او غوجلو په هکله لازمې پاملرنې وشي او د ناروغیو په صورت کې د زیان د مخنیوي په خاطرېې په درملنه لاس پورې کړو.

**ارزونه:**


۱- اهلي حیواناتو ته ولې اهلي وایي؟

۲- له اهلي حیواناتوڅخه څرنګه ساتنه او پالنه وکړو؟



**کورنی دنده:**

د اهلي حیواناتو ارزښت په څوکرښوکې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# وحشي حیوانات



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید وحشي حیوانات وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د وحشي حیواناتو پر اهمیت پوه شي.

۳- زده کوونکي باید د وحشي حیواناتو د ساتنې په هکله وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره د وحشي کلمه څه مفهوم لري؟

۲- د هغو شمېر حیواناتو نومونه واخلئ چې ستاسې له نظره وحشي دي.

د زده کوونکو فعالیتونه



- د هغو وحشي حیواناتو نومونه ولیکئ چې په شکل کې موجود نه دي.
- له وحشي حیواناتو څخه په کومو مواردو کې ګټه اخیستل کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- هغه حیوانات، چې په دښتو، بیدیاوو (صحراګانو)، غرونو، ځنګلونو، اوبو او نورو ځایو کې په آزاد ډول ژوند کوي، د وحشي حیواناتو په نامه یادیږي.
- د وحشي حیواناتو په ډله کې پړانګ، لیوه، ګیدړه، یو زیات شمېر الوتونکي، ماران، چونګښې، کبان او نور راځي.
- هوسیو، کبانو، هیلیو او د یو شمېر وحشي حیواناتو له غوښو څخه د خوړو په توګه ګټه اخیستل کیږي.
- د وحشي حیواناتو له پوستکي څخه د څرمنې په صنعت کې ګټه ترلاسه کیږي.
- د وحشي حیواناتو پوستکي د کالیو په جوړولو او زینتي وسایلو کې کارول کیږي.
- باید پوه شو چې وحشي حیوانات د انسان په ژوند کې ځانګړې ارزښت لري، نو ځکه یې باید ساتنه او روزنه وشي او د هغوی د بې ځایه ښکار مخنیوی دې وشي چې نسل یې له منځه لاړ نشي.

**ارزونه:**

۱- وحشي حیوانات په کوم ځای کې ژوند کوي؟
۲- د کومو وحشي حیواناتو له غوښې څخه ګټه اخلو؟
۳- د وحشي حیواناتو د نسل له ورکېدو څخه څرنګه مخنیوی وکړو؟



**کورنۍ دنده:**

۱- د وحشي حیواناتو په هکله درې کرښې ولیکئ.
۲- د هوسی د پوستکي د ګټې اخیستنې ځایونه څرګند کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نباتات



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د نباتاتو له ډولونو سره آشنا شي.
۲- زده کوونکي باید د نباتاتو په جوړښت پوه شي.
۳- زده کوونکي باید د نباتاتو په اهمیت باندې وپوهیږي.
٤- زده کوونکي باید له نباتاتو څخه ساتنه وکړای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- آیا تاسې له تیرو لوستو څخه په یاد لرئ چې ژوندي موجودات په کومو ډلو ویشل شوي وو؟ نوم یې واخلئ.
۲- ستاسې په نظر په ژوند کې له نباتاتو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې د خپل شاوخوا چاپیریال نباتات وګوري او د هغوی د ډولونو لست دې ولیکي.
- د زده کوونکو دویمه ډله دې د یو نبات اجزاء ولیکي.
- د زده کوونکو دریمه ډله دې د نباتاتو د ساتنې او ګټې اخیستنې په هکله معلومات ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- نباتات ژوندي اجسام دي، چې بېلابېل ډولونه لري، لکه: يو کلن او څو کلن نباتات.
- يو کلن نباتات، لکه: غنم، جوار، شولې، ختکې او نور.
- څو کلن نباتات، لکه : د ګلابو بوټي او د ونو بېلابېل ډولونه.
- نباتات له ريښو، ډنډرو (ساقه)، پاڼو، ګل، ميوو او دانو څخه جوړ شويدي.
- د ټولو انسانانو او حيواناتو خواړه له نباتاتو څخه برابرېږي.
- د ونو لرګي د سون مواد او د کورونو، چوکيو، ميزونو او نورو لوازمو د جوړولو لپاره پکارېږي. له پنبې او کتان څخه کالي او د زغرو، کونځلو، شرشمو او لمرګل (ګل آفتاب پرست) له دانو څخه غوړي جوړېږي. له ځينو نباتاتو څخه د درملو لپاره کار اخيستل کيږي، لکه: سپيرکي، باديان او نور.

نباتات زموږ د چاپيريال د شين والي، تازه ګۍ او زرغونتيا سبب ګرځي، نو ځکه له نباتاتو څخه بايد په دې توګه ساتنه وکړو:

د ناروغيو پر مهال يې بايد درملنه وشي.

په مناسبو وختو کې بايد اوبه ورکړ شي.

د نباتاتو د ګلانو، ساقو او پاڼو له پريکولو څخه بايد ډډه وشي.

هر ډول نبات بايد په خپل چاپيريال کې وکرو او له پخوا څخه يې زياته روزنه کړو.

**ارزونه:**

۱- د څو يو کلنو او څو کلنو نباتاتو نومونه واخلئ.
۲- نباتات له کومو اجزاوو څخه جوړ شوي دي.
۳- د نباتاتو څرنګه ساتنه وکړو؟


**کورنۍ دنده:**

۱- د نباتاتو دګټې اخيستنې په هکله له خپل پلار او مور سره خبرې وکړئ او ويې ليکئ.

۲- له هغو بيلابيلو نباتاتو څخه، چې تاسې ورځخه ګټه اخلئ، نومونه يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ريښــــــه




موخې:

۱- زده کوونکي بايد د نباتاتو د ريښو له جوړښت سره آشناشي.
۲- زده کوونکي بايد د نبات د ريښې دنده وپيژني.
۳- زده کوونکي بايد د ريښې په اهميت باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ - ستاسې له نظره ريښه د نبات کومه برخه ده؟
۲ - د نبات لپاره د ريښې د اهميت په هکله په څه پوهيږئ؟
۳ - آيا يو نبات له ريښې څخه پرته وده کولی شي، ولې؟

**د زده کوونکو فعاليتونه**

- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې له ځمکې څخه ځو ډوله علفي نباتات (واښه) په احتياط وباسي او ودې گوري او د خپلو ليدنو نتيجه دې وليکي.
- دويمه ډله دې د نباتاتو د ريښې د دندې په هکله يو له بل سره مبحث اوخبرې وکړي او خپلې نظريې دې وليکي.
- دريمه ډله دې د ريښې د اهميت په هکله خبرې وکړي اونتيجه دې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ريښه د نبات يوه برخه ده چې په خاورو يا اوبو کې وده کوي.
- هغسې چې د نباتاتو ځانگې په هوا کې وده کوي، ريښې يې په خـــاوره کـــې وده کوي.
- نباتات دوه ډوله ريښې لري: يوه يې اصلي او بله يې فرعي ده، چې له اصلي ريښې څخه ځو فرعي ريښې وده کوي.
- په ځينو اصلي ريښو کې غذايي مواد زيرمه کيږي او خورا زيات لوييږي، لکه گازرې او نور.
- نباتات په خاوره کې د ريښې په وسيله ټينگ ساتل کيږي او د هغو په مرســـته لـــه خاورو څخه اوبه او ضروري مواد جذبوي.
- د ځمکې خاوره د نباتاتو د ريښې په وسيله ټينگه ساتل کيږي او د باد او باران پـــه وسيله له ويجاړيدو څخه يې ساتي.

**ارزونه:**

۱- ريښه رابرسيره کړئ او د ځو ډولونو نمونه يې واخلئ.

۲- د ريښې دنده ووایاست.

۳- د ريښې اهميت راځرگند کړئ.

**کورنۍ دنده:**

د يو نبات ريښه رسم کړئ او هغه ونوموئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقه



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د نبات ساقې او ډولونه وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د رېښې په دنده باندې پوه شي.

۳- زده کوونکي باید د ساقې په اهمیت وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره د نبات کومې برخې ته ساقه وايي؟

۲- تاسې د يو نبات د ساقې د اهميت په باب څه فکر کوئ؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې د نبات ساقه د شکل له مخې وښيي.
- دويمه ډله دې هغه دنده چې ساقه يې ترسره کوي، وښيي.
- دريمه ډله دې د ساقې د اهميت په هکله خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ساقه د نبات هغه خورا مهمه او عمده برخه ده چې په ريښې باندې پرته ده او پورته وده کوي.
- ساقه د نبات ريښه او ګلان سره نښلوي.
- هغه معدني ياکاني مواد او اوبه چې له ځمکې څخه د ريښې په وسيله جذبيږي د ساقې په مرسته پاڼو ته ليږدول کيږي.
- ساقه بيلابيل ډولونه لري، خو د باندني جوړښت له مخې په دوو ډلو ويشل کيږي:
  ۱ – علفي ساقې.
  ۲ – لرګييزې ساقې.
- علفي ساقې د غنم، جوار او نورو په شان يو کلن ژوند لري.
- لرګييزې ساقې لکه: ګلاب، توت، مڼې او نور څو کلن ژوند لري.
- ساقه د نبات د ګلانو، پاڼو او ميوې د ټينګ ساتلو لپاره ډېر اهميت لري.

**ارزونه:**

۱– ساقه پاڼوته کوم شيان ليږدوي؟
۲– د کومو نباتاتو ساقې علفي د کومو لرګييزې دي؟




**کورنۍ دنده:**

د نباتاتو د ساقې د اهميت په هکله پنځه کرښې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاڼــــــــــه



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د پاڼې په جوړښت پوه شي.
۲- زده کوونکي باید د پاڼې په اهمیت باندې وپوهیږي.
۳- زده کوونکي باید د نباتاتو د پاڼو ساتنه وکړای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- د یو نبات لپاره پاڼه څه ګټه لري؟
۲- تاسې تر اوسه پورې د پاڼې څو ډولونه لیدلي دي؟

د زده کوونکو فعالیتونه

- د نبات پاڼه په ځیر سره وګورئ او د هغه رنګ او جوړښت ولیکئ.
- د بېلابېلو نباتاتو پاڼې سره پرتله کړئ.
- د یونبات ناروغه پاڼې را برسیره کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د نباتاتو پاڼې شین رنګې پاڼې دي چې خورا د اهمیت وړ دي.
- پاڼه د نباتاتو د خوړو جوړولو فابریکه ده، چې د لمر د وړانګې په مرسته یې برابروي.
- په پاڼو کې کوچنې سوري دي چې د هغو په وسیله یې ګیاوې تنفس کوي.
- په بیلابیلو نباتاتو کې پاڼې بیلابیل شکل او جوړښت لري.
- ناروغه پاڼې داغونه لري او یا اصلي رنګ یې لږ تر لږه له منځه ځي.
- په ناروغو پاڼو کې د خزندو د ځای نیونې له کبله پاڼې ګونجې کیږي.
- ناروغه نباتات د خپلې پاڼې له مخې پیژندل کیږي چې درملنې ته اړتیا لري.
- که چیرې د یو نبات پاڼه وشکول شي، د نبات د کمزورتیا سبب کیږي.

**ارزونه:**

۱- پاڼه څرنګه تنفس کوي؟
۲- که چیرې د یو نبات پاڼې پرې شي نبات ته کوم زیان رسیږي؟
۳- د یو نبات ناروغتیا څنګه پیژنئ؟
٤- ولې د یو نبات لپاره د لمر وړانګې ضروري دي؟



**کورنۍ دنده:**

د پاڼې په اهمیت او د هغې د ناروغۍ د مخنیوي په هکله له خپل پلار، مور او د کورنۍ له غړو سره خبرې وکړئ او د هغوی نظریې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# گل



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید گل د نبات د یو جز په توگه وپېژني.

۲- زده کوونکي باید د گل په دنده باندې پوه شي.

۳- زده کوونکي باید د گل پر اهمیت باندې وپوهېږي.

٤- زده کوونکي باید د گلانو ساتنه وکړای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – د نباتاتو د گلانو په برخه کې څه پوهېږئ؟

۲ – د گلانو څو ډولونه مو لیدلي دي؟ نوم یې واخلئ.

د زده کوونکو فعالیتونه



- په گلدان او یا د ښوونځي په باغچه کې د یو گل رنگ، بوی او یا د گل بدلون ته ځیرشئ.
- د نباتاتو او یا انسان لپاره د یو گل د اهمیت په هکله چې څنگه پوهېږئ، هغه ولیکئ.



Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ګلان د نباتاتو یوه برخه یا یو جزء دی، چې ډول ډول رنګ، بوی او شکلونه لري.
- د نبات ګل، میوې او دانې رامنځته کوي.
- له ګلانو څخه د عطرونو د جوړولو لپاره ګټه اخیستل کیږي.
- د شاتو مچۍ د شاتو په جوړولو کې له ګلانو څخه ګټه اخلي.
- د ژوند د چاپېریال د ښکلا لپاره په پارکونو، باغچو او ځینې کورونوکې ګلان کرل کیږي.
- ګلان باید پرې نه کړو او په ټاکلي وخت کې اوبه ورکړو او ساتنه یې وکړو.

**ارزونه:**

۱- وواياست چې ګل د نبات لپاره کومه دنده ترسره کوي؟
۲- د انسانانو لپاره ګلان څه اهمیت لري؟
۳- ولې د ګلانو څارنه وکړو؟


**کورنۍ دنده:**

د بیلابیلو ګلانو د ګټې اخیستنې په هکله درې کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ميوې او دانې





موخې:

۱– زده کوونکي باید میوې او دانې وپیژني.

۲– زده کوونکي باید د دانې او میوې په اهمیت باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱– د نباتاتو د دانو او میوو په باب څه پوهیږئ؟**

**۲– آیا د هغو میوو نوم اخیستلی شئ چې زموږ په هېواد کې پیداکیږي؟**

**۳– آیا تاسو پوهیږئ چې د نباتاتو له دانو څخه څه ګټه پورته کیږي؟**

د زده کوونکو فعالیتونه

- د زده کوونکو لومړی ډله باید د شکل له مخې وښیي چې د نبات میوه او دانه (تخم) کوم دي.
- د زده کوونکو دویمه ډله دې د میوې او دانې (تخم) اهمیت په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- کله چې نبات خپلې بشپړې ودې ته ورسیږي له هغه څخه میوه او دانه (تخم) ترلاسه کیږي.
- دانه (تخم) د نبات لپاره د غذايي موادو زیرمه جوړوي.
- کله چې په ځمکه کې د نبات دانه (تخم) وکرل شي له هغه څخه نوی نبات شین کیږي.
- د نباتاتو میوه او دانه د انسانانو لپاره مهمه غذايي سرچینه شمېرل کیږي.

لکه: منې، ناک، زردآلو، شفتالو، بادام، غوز(چارمغز)، پسته، غنم، لوبیا، نخـــود او داسې نور.

**ارزونه:**

۱- د نباتاتو میوه او تخم څه ډول ترلاسه کیږي؟
۲- د نباتاتو په کومه برخه کې خوراکي مواد زیرمه کیږي؟
۳- د نباتاتو له میوو او تخم څخه څرنگه گټه اخلو؟



**کورنۍ دنده:**

د میوې او دانې (تخم) د اهمیت په هکله د خپلې کورنۍ او خپـل نظر ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## رڼا او تودوخه





له تودوخې څخه ګټه اخیستنه

موخې:

۱- زده کوونکي باید د تودوخې په اهمیت پوه شي.

۲- زده کوونکي باید په ورځني ژوند کې د تودوخې په ګټو پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره نباتات په ژمي کې ښه وده کوي او که په اوړي کې، ولې؟

۲ – هغه کسان چې په تودو سیمو کې ژوند کوي له تودوخې څخه کار اخلي؟

د زده کوونکو فعالیتونه





زده کوونکي دې شکلونو ته په پاملرنې سره په څو ډلو وویشل شي او د لاندې پوښتنو په هکله دې له یوبل سره بحث وکړي او د هغه نتیجه دې نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.

۱- په ژمي کې ولې پنډې او وړینې جامې آغوندو؟

۲- د خوړو د پخولو په وخت کې له کوم شي څخه ګټه اخلو؟ آیا خواړه له تودوخې ورکولو څخه پرته پخیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په پورتني شکل کې خپل چاپیریال ته په پاملرنې لـه تـودوخې څخـه د ګټې اخیستلو لپاره نور کوم ځایونه پیژنئ؟ نوم یې واخلئ.

## متن:

- له تودوخې (حرارت) څخه د خپل بدن د ساتنې لپاره ګټه اخلو. د مثال په توګه: ددې لپاره چې په ژمي کې ناروغ نشو او زموږ بدن ګرم شي، خپل کورونه تودوو.
- تودوخه د نباتاتو د ودې لپاره ضرور ده، مثلاً: په ژمي کې چې هوا یخه وي ځینـې نباتات د سړو له امله لړه او یا هیڅ وده نه کوي.
- موږ په نورو ځایونو کې هم له تودوخې څخه ګټه اخلو، لکه: د خوړو پخول، د کالیو اتوکول، د کورونو تودول، د بدن او جامو د پریمینځلو لپاره د اوبو تودول، په بټیـو کې د خښتو پخول او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تجربه:

د خپل ښوونکي په مرسته یو اوبه ګرموونکی جوړ کړئ او د لمر وړانګې په کې زیرمه کړئ. تودوخه د وړانګې له څلیدو په وسیله ځمکې ته رسیږي او په اوبه ګرموونکي کې زیرمه کیږي.

د کار څرنګوالی په هره برخه کې څرګند شوی دی.

### د اړتیا وړ شیان




١



٢
د پنسل او خط کش په وسیله د قطعه یي کارتن کوچنی قطر رسم وکاږئ.



٣
د بیاتي په مرسته په دقت سره له شکل سره سم کارتن پرې کړئ.



٤
د کارتن داخلي برخه په زرورق وپوښوئ.



٥
کارتن د لمر خواته پرېږدئ او د اوبو ګیلاس په منځ کې کیږدئ او د کارتن مخ په پلاستیک وپوښوئ او داسې یې کلک کړئ چې هوا په کې ننوځي.



٦
اوبه ژر تودیږي، تودوخه یې د خپلو ګوتو په وسیله امتحان کړئ.

**ارزونه:**

په ورځني ژوندکې له تودوخې څخه په کومو مواردو کې ګټه اخیستل کیږي، نوم یې واخلئ؟

**کورنۍ دنده:**

د هغو وسایلو په برخه کې چې د پخلي او کوروټو په تودولو کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي پنځه کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تودوخې رامنځته کوونکې سرچينې



**موخه:**

زده کوونکي بايد په دې لوست کې د تودوخې توليدونکې سرچينې وپېژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**


١ – ستاسې له نظره تودوخه (حرارت) څرنګه رامنځته کېږي؟

٢ – د ځمکې پرمخ د ژونديو موجوداتو لپاره د تودوخې خورا مهمه سرچينه کومه ده؟

د زده کوونکو فعاليتونه







١- که چېرې له اوبو ډکه يو ډک لوښی په اور باندې کېښودل شي په اوبو کې کوم بدلون رامنځته کېږي، ولې؟

٢- کله چې تاسې لمر ته ودرېږئ د ګرمۍ احساس کوئ، ولې؟

٣- د خپلو لاسونو ورغوي ژر- ژر د يوې دقيقې لپاره له يو بل سره وسولوئ (وموښئ). لږ څه وروسته د خپلو لاسونو په ورغوو کې څه شی احساسوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤- د بریښنا او یا د لاسي څراغ یو ګروپ روښانه کړئ. له روښانیدو څخه مخکې او وروسته په هغې لاس ووهئ. آیا تود شوی؟ په دې ځای کې کوم شي تودوخه منځته راوړې ده؟

٥- آیا نور وسایل، چې له بریښنا څخه د تودوخې د رامنځته کیدو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، پیژنئ؟ د هغوی نومونه واخلئ او وواياست چې د کوم کار لپاره له هغو څخه ګټه اخلو؟

## متن:

- کله چې لمر ته دریږو، زموږ بدن ګرمیږي. ځکه لمر د تودوخې یوه ډېره مهمه سرچینه ده، چې ځمکه او زموږ د شاوخوا چاپیریال ګرموي.
- تودوخه له نورو شیانو څخه هم رامنځته کیږي، مثلاً: کله چې تیل، لرګي، کاغذ، ګاز او یا نور شیان وسوځیږي، تودوخه تولیدوي.
- تودوخه د بریښنا په وسیله هم منځته راځي. تاسې به لیدلي وي چې برقي منقل ګرمیږي او کله چې یو برقي ګروپ روښانه وي، ګرمیږي.
- کله چې تاسې خپل لاسونه سره سولوئ د ګرمۍ احساس کوئ. په همدې ترتیب که نور شیان هم سره وسولول شي، ګرمیږي. نو له دې کبله تودوخه د موښولو په وسیله هم رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوړل د تودېدو لپاره:**

آیا تاسې به لیدلي وي، چې د لوږې په وخت کې د یخنۍ احساس کوئ، که چیرې په همدغه وخت کې خواړه وخورئ، څه شی به احساس کړئ؟

زموږ د بدن د تودوخې د پیدا کیدو لپاره د اهمیت وړ خورا مهمه سرچینه خواړه دي. زموږ په بدن کې د خوړو د بدلون له امله تودوخه رامنځته کیږي. له دې کبله کله چې تاسې خواړه خورئ، ګرمیږئ. کله چې ډېر فعالیت کوو، مثلاً: کله چې ځغلو، زموږ بدن تودیږي او خولې کیږي. دلیل یې دادی چې زموږ په بدن کې خواړه مصرفیږي او تودوخه رامنځته کوي.


**ارزونه:**

۱- څه ډول په بدن کې خواړه تودوخه منځته راوړي؟
۲- د تودوخې هغه سرچینې چې تر اوسه پورې موپیژندلي دي نوم یې واخلئ.



**کورنۍ دنده:**


د تودوخې د رامنځته کوونکو شیانو لست په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تودوخې (حرارت) اغيزې

د الف شکل




د ب شکل




**موخه:**

زده کوونکي بايد پر اجسامو باندې د تودوخې اغيزې وپيژني.

**هڅوونکې پوښتنه:**

ستاسې له نظره پر اجسامو باندې تودوخه څه اغيزه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زده کوونکو فعالیتونه

۱- د الف شکل له شرحې سره سم په هر پړاو کې څه بدلونونه رامنځته شوي دي؟ کوم شی ددې بدلونونو سبب شوی دی؟
۲- د ب شکل وڅیرئ. کوم بدلونونه له لومړي څخه تر دریم ځل پورې رامنځته شوي دي؟ کوم شي دا بدلون رامنځته کړی دی؟
۳- د الف په شکل کې د ۱ او ۲ پړاوونه په پام کې ونیسئ: یخ (کنګل) د تودخې لـه امله په اوبو باندې بدل شوی دی. آیا ددې بدلون برعکس امکان شته؟ څرنګه؟
٤- اوس په (ب) شکل کې دویم او دریم پړاوونه په پام کې ونیسئ. آیا هغه بدلونونه چې په شکل کې راښودل شوي دي برعکس یې د امکان وړ دي؟
۵- کوم توپیرونه د (الف) او (ب) د شکلونو د بدلونونو ترمنځ لیدل کیږي؟

## متن:

**تودوخه د جسمونو د حالت د بدلون سبب کیږي. د مثال په توګه: په پورتنۍ (الف) شکل کې ولیدل شو چې کنګل د تودوخې (حرارت) له امله په اوبو بدلیږي. د تودوخې له امله ورو، ورو اوبه تودیږي او په ایشیدو راځي. که د تودوخې ورکول دوام پیداکړي د لوښي اوبه تر هغه پورې کمیږي ترڅو وچې شي. په دې حالت ویل کیږي چې اوبه په بخار(براس) باندې بدلې شوي دي. د اوبو براسونه د اوبو کوچنۍ ذرې دي چې په سترګو نه لیدل کیږي. کله چې اوبه ایشیږي په هوا کې خپریږي. د (ب) په شکل کې لیدل کیږي چې لرګی د تودوخې له امله په سکرو باندې اوښتي دي او هم خمیره د تودوخې په اثر په ډوډۍ باندې بدله شوي ده. که چیرې د (الف) شکل ته ښه ځیر شو لیدل کیږي چې د اوبو پر ماهیت کې کوم بدلون نه دی راغلی. مثلاً: که چیرې اوبه ګرمې شي ویلې کیږي او که سړې شي کنګل کیږي. خو د (ب) په شکل کې د لرګو ماهیت بدلون موندلی دی، ځکه په سکرو بدل شوي دي. سکاره د سرولو په نتیجه کې په لرګو باندې نه بدلیږي، نو ځکه په اجسامو کې دوه ډوله بد لونونه موجود دي.**

**۱ – د یو جسم شکل او حالت بدلون مومي.**

**۲ – د یو جسم ماهیت او نوعیت بدلون مومي.**

**ارزونه:**

۱- آیا ویلای شئ چې د تودوخې تر اغیزې لاندې اومه هګۍ څه ډول بدلون مومي؟
۲- که چیرې جامدو غوړو ته تودوخه ورکړ شي کوم ډول بدلون په کې رامنځته کیږي؟
۳- دتودوخې په اثر د جسمونو د شکل د بدلون او د شیانو د ماهیت د بدلون یویو مثال راوړئ.

**کورنۍ دنده:**

**د نومورې لوست نتیجه په پنځو کرښو کې ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تودوخې د درجې اندازه کول



**موخه:**

زده کوونکي باید د تودوخې د درجې په اندازه کولو وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – آیا په اجسامو باندې د لاس وهلو له لارې ویلی شئ چې کوم یو یې خورا تود دی.

۲ – آیا ددې امکان شته چې تل د یوه لوښي یا اوبو د تودوخې اندازه پـــه لاس وهلو باندې معلومه کړو؟

د زده کوونکو فعالیتونه






**شکل ته وګورئ او ووایئ:**

۱– هغه آله (وسیله) پیژنئ چې د ډاکتر په لاس کې ده؟ آیا ویلای شئ چې ډاکتر له هغې څخه څه ګټه اخلي؟

۲– آیـا د شکل یـا د خپلې تجربې لـه مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library





ویلای شئ چې د تودوخې لـه معلومولـو
پرتـه لـه ترمـامیتر څخـه کومـه بلـه ګټـه
اخیستلای شئ.

۳- په شکل کې د سانتي ګراد ترمامیتر ښودل
شوی دی.

آیا کولای شئ د هغه د درجې لـه مخې د
ګیلاس د چای د تـودوخې درجـه معلومـه
کړئ؟

## متن:

د اجسامو ګرموالی او سړښت د لاس په وهلو احساسولای شو. د مثال په توګه: اوبه په ژمي کې سړې او په اوړي کې تودې وي، خو د تودوخې د معلومولو لپاره تل له لاس څخه ګټه اخیستلی نه شو.

د مثال په ډول: نه شو کولای چې د لاس په وسیله خوټېدلې اوبه، سره غوړي، ویلې شوي سرب لمس کړو، ځکه لاس ته زیان رسوي او هم په ځینو وختو کې د تودوخې د اندازه کولو لپاره زموږ لاسونه د اړتیا وړ حساسیت نه لري.

د مثال په توګه: د یو ناروغ د تبې درجه د لاس په وسیله ټاکلی نه شو. نو له دې کبله د تودوخې د درجې د معلومولو لپاره له هغې آلې څخه ګټه اخلو، چې ترمامتر نومیږي.

ترمامتر د اجسامو د تودوخې درجه (ګرموالی او سوړوالی) راښیي. ترمامتر بیلابیل ډولونه لري چې خورا معمولي ډول یې د سانتیګراد په نامه یادیږي. ددې لوست په اشکالو کې دغه ډول ترمامترونه کتلای شئ.

**ترمامیتر څخه د ګټې اخیستلو لار:**

۱- د مایع موادو، لکه اوبو، تیلو او الکولو د تودوخې درجې د ټاکلو لپاره د دوه یا درېو دقیقو پورې د ترمامتر مخزن په دغو مایعاتو کې ننه باسو. کله چې د مخزن او نوموړو مایعاتو تودوخه سره برابره شوه د هغوی د تودوخې درجه لولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲–د جامدو موادو لکه لرګیو او نورو د تودوخې درجې د معلومولو لپاره د ترمامتر مخزن دغو اجسامو ته نږدې کوو. له دوو یا دریو دقیقو څخه وروسته هغه درجه چې راښیي، لولو.

۳– دکوټې او یا د باندې هوا د تودوخې د درجې د معلومولو لپاره د ځمکې له مخ څخه یو متر پورته سوري کې چې له سړوونکو او تودوونکو موادو څخه لرې وي، ترمامترکیږدئ او درجه یې ولولئ. د درجې د لوستلو په وخت کې پام وکړئ چې باید:

۱ – ستاسې سترګې او ترمامتر په یوې سطحې کې واقع وي.

۲ – ترمامتر باید په ولاړ حالت(عمودي) واقع وي.

**ارزونه:**

۱– د اندازه کولو په کومو موارددو کې له ترمامتر څخه ګټه اخیستل کیږي؟

۲– په لاندې شکلونو کې هر ترمامتر کومه یوه درجه راښیي، هغه ولولئ؟

۳– څرنګه د مایعاتو د تودوخې درجه ټاکلی شو؟


٤– څرنګه د هوا د تودوخې درجه ټاکو؟



**کورنۍ دنده:**
په لنډه توګه له ترمامتر څخه د ګټې اخیستنې طریقه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رڼا (نور) او د ليدو ترمنځ اړيکې او د رڼا سرچينې



**موخې:**

۱- زده کوونکي بايد په دې پوه شي، چې نور(رڼا) د اجسامو د ليدلو سبب کيږي.

۲- زده کوونکي بايد د رڼا (نور) سرچينې وپيژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- کله چې خپلې سترګې وتړو، ولې کوم شی ليدلی نه شو؟

۲- ستاسې له نظره رڼا (نور) له کومو شيانو څخه پيدا کيږي؟


د زده کوونکو فعاليتونه



۱- په تور تم شپه او يا په يو بشپړ تياره ځای کې ولې کوم شی ليدلای نشو؟

۲- که چيرې په يو تور تم ځای کې واوسئ هغه وسايل چې د ښه ليدو لپاره ور څخه ګټه اخيستل کيږي، نوم يې واخلئ.

۳- په ورځ کې هر شی په ښه توګه






(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلای شو. د هغوی د لیدلو لپاره اړتیا رڼا (نور) له کوم ځای څخه راځي، خبرې پرې وکړئ؟

٤- که شکل سره سمه یوه هینداره په یوې تیاره کوټې او یا پـه ټـولگي کـې د یـو لاسي برق د وړانگې په مقابل کې کیږدئ، نو هینداري سره د نور (رڼا) وړانگې له ټکر وروسته څه کیږي؟

آیا ویلی شئ، چې دا پیښه څه نومیږي؟ که ورو، ورو هینداره وخرخوئ آیا د منعکس شوې وړانگې تګلوری له هیندارې څخه بدلون مومي؟



٥- آیا ددې عمل له لارې کولای شئ چې تور تم ځایونو ته د لمر وړانگې ورسوئ؟ ددې کار طریقه تشریح کړئ.

**متن:**

**نور د اجسامو د لیدو سبب کیږي. موږ یو جسم هغه مهال لیدلای شو، چې له نومـــوړي جسم څخه زموږ سترګوته رڼا را ورسیږي. د ساري په توګه: کله چې موږ خپلې سترګې وتړو کوم شی لیدلای نه شو. څکه په شپو یا تورتم ځایونوکې څرنګه چـــې رڼــــا (نــــور) موجود نه وي، نو څکه کوم شی نه شو لیدلای، چې هلته رڼا(نور) نه شته.**

**ددې دلیل له مخې هغه شیانو ته چې رڼا(نور) رامنځته کړي، اړتیا لرو، لکه، لمر چې خورا ډېره رڼا (نور) رامنځته کوي او په ورځ کې زموږ شاوخوا روښانه کوي. یو شمیر نـــور شیان هم رڼا ورکوي، لکه، لاسي څراغ، د بریښنا ګروپ، شمع، اور او نور. دا ټـــول د نور (رڼا) سرچینې دي. لمر د نور خورا لویه او مهمه سرچینه ده چې د هغې په وسیله هم**



Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورې سرچينې وينو او هم نور شيان ليدلای شو. په لنډه توګه اجسام په دوو طريقو ليدلای شو:

۱- په خپله نور (رڼا) را منځ ته کوي او رڼا يې زموږ سترګوته را رسيږي او ليدل کيږي لکه: لمر، شمع او اور.

۲- له يو نوراني جسم څخه نور غير نوراني جسم ته رسيږي او له هغې څخه انعکاس کوي او زموږ سترګوته را رسيږي.

د مثال په توګه، يوه تيږه هغه وخت ليدلای شو، چې د لمر وړانګې وربانـدې ولګيږي او نور (رڼا) يې بيرته انعکاس وکړي او زموږ سترګوته ورسيږي.

**دلوست نوي اصطلاحګاني:**

۱- نوراني جسمونه:هغه جسمونه دي چې نور (رڼا) رامنځته کوي، لکه: لمر، شمع او نور.

۲- غير نوراني اجسام: هغه جسمونه دي چې پخپله رڼا (نور) توليدولای نه شي لکه، تيږه، لرګي او نور.

۳- انعکاس: که تاسې خپل توپ په ځمکه ووهئ او يا يې ديوال ته وولئ، توپ له جسم سره تر لګيدو څخه وروسته بيرته را ګرځي. همدا شان کله چې نور(رڼا) په يو جسم باندې د لګيدو وروسته ولګيږي، بيرته را ګرځي او دا عمل د نور د انعکاس په نامه ياديږي.

**ارزونه:**

۱- يو شی کوم وخت ليدلای شئ؟

۲- نوراني او غير نوراني اجسام څه توپير لري؟

**کورنۍ دنده:**

۱- په خپلو کورونو کې له کومو نور (رڼا) ورکوونکو وسيلو څخه ګټه اخلئ؟

۲- په خپلو کتابچو کې د نوراني اجسامو او غير نوراني اجسامو نومونه وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیوری





موخې:

۱- زده کوونکي باید د نور (رڼا) د حرکت په څرنګوالي باندې پوه شي.

۲- باید د سیوري د تشکیل پر څرنګوالي باندې وپوهيږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱ – آیا پوهیږئ چې رڼا (نور) څه ډول کوم لوري ته حرکت کوي؟**

**۲ – ستاسې له نظره رڼا او سیوری څه اړيکې لري؟**

د زده کوونکو فعالیتونه

د نور د حرکت د څرنګوالي د پوهیدو لپاره لاندینۍ تجربه په ګډه ترسره کوو:



**تجربه:**

د اړتیا وړ مواد: قطعه یي کارتن، بیاتي، کوچنی لاسي څراغ، سپین کاغذونه، قلم او خط کش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲

۱- دوه مستطیل شکله قطعې لـه قطعـه یـي کارتن یا پنړ کاغذ څخه پـرې کـړئ او له شکل سره سم يې سورى کړئ.


۲- قطعه له شکل سره سمه قات کړئ.



۳

۳- شکل سـره سـم قطعې دا شـان کـېږدئ چـې د لاسـي څـراغ نـور (رڼـا) سـوري څخه تیر شي او موږ لاسي څراغ ووینو.

۴- هغه نقطې چې سیورى په کې واقع دى د کاغذ پرمخ په نښه کړئ.



٤

۵- قطعې لرې کړئ او هغه نقطې چې نـښه شوي دي د خط کش په وسیله يې سره ونښلوئ.



٥

پوښتنه: آیا هغه کرښه چې را کښلې موده، مستقیم خط دى؟

اوس قطعه لږ څه نژدې او لیرې کړئ او پورتنۍ تجربې سرته ورسوئ. خط رسم کړئ آیا دا وار بیا هم راکښل شوى خط مستقیم دى؟

آیا دا خط رابښيي چې نور (رڼا) په مستقیم ډول حرکت کوي؟

اوس یوه قطعه چې سورى ونه لري د لاسي برقي څراغ په مقابل کې کېږدئ.



آیـا لـه قطعـې څخـه د لاسـي څـراغ نـور (رڼا)تیریږي. یا دهغه له شاوخوا څخه تیریږي؟

آیـا د قطعـې شـا یـو ډول روښـانه ده؟ کـومې برخې خورا روښانه او کومې برخې خورا تیاره دي؟ تیاره برخه په څه نامه یادیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

هغه رڼا (نور) چې له سرچينې څخه، لکه: لاسي څراغ، شمع، لمر او نورو څخه رامنځته کيږي، په فضا کې له کرېدو پرته په مستقيم ډول خپريږي. د نور (رڼا) دا يو خورا مهم خاصيت دی، ځکه په همدې علت موږ هغه شيان ليدلی شو چې په مستقيم ډول زموږ د سترګو خواته واقع وي. او هغه شيان چې زموږ په شاوخوا کې د سترګو مقابل ته واقع نه وي، ليدلای نه شو.

سيوری هم د نور له همدې خاصيت څخه رامنځته کيږي، ځکه له مکدرو اجسامو څخه د نور (رڼا) تيريدای نه شي. نور (رڼا) د هغه له خواو و څخه تيريږي، نو له دې کبله هغه ځايونه چې ورته نور (رڼا) نه رسيږي تياره پاتې کيږي او تياره برخه د (سيوري) په نامه سره ياديږي.

**ارزونه:**

۱- نور (رڼا) څه ډول حرکت کوي؟

۲- سيوری څرنګه رامنځته کيږي؟

۳- هغه جسمونه چې نور (رڼا) خپرولی نه شي، په څه نامه ياديږي؟



**کورنۍ دنده:**

د نور (رڼا) مستقيم حرکت په ساده ژبه وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## ماشینونه



موخې:

۱. زده کوونکي باید ماشینونه د کار د وسیلې په توګه وپيژني.

۲. زده کوونکي باید په خپل ورځني ژوند کې د ماشین په ارزښت پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱– ستاسې له نظره ماشین په ورځني ژوند کې څه اهمیت لري؟**

**۲– تاسې څو ډوله ماشینونه پیژنئ؟**

د زده کوونکو فعالیتونه




– تاسې په شکل کې ګورئ، چې یو سړی کوم بار په خپلو اوږو باندې وړي او یو بل نفرهم یو بار په کراچۍ کې لیږدوي. ستاسې په نظر کوم یو یې زیات ستومانه کیږي؟ کوم یو یې کار ژر ترسره کوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

- په پورتني شکل کې يوه الوتکه وينئ. دا وسيله موږ ته کوم ډول کار ترسره کوي. آيا هوايي سفر له الوتکو پرته امکان لري؟
- د مسافرت لپاره له الوتکو پرته له کومې بلې وسيلې څخه ګټه اخلئ؟ په تيرو وختونو کې د سفر بڼه څه ډول وه؟ هغوی د چټکتيا او آسانتيا لـه مخې سـره پرتلـه کړئ او خبرې پرې وکړئ.









- په پورتني شکل کې هره وسيله کوم ډول کار سرته رسوي؟
- آيا هغوی کارونه ژر او آسانه ترسره کوي او که نه؟

## متن:

موږ هر يو په خپل ژوند کې د کار د آسانتيا لپاره له بيلابيلو وسيلو څخه ګټه اخلو. دغـه وسيلې زموږ د کار د چټکتيا او آسانتيا سبب کيږي. مثلاً تاسي به ليدلي وي چې ستاسـي ميندې ټوکران د بياتي په وسيله پرې کوي او د خياطۍ د ماشين په مرسته يـې ګنـډي. انسانانو له پخوا څخه زده کړې وو چې د کار لپاره له کومې وسيلې څخه ګټه واخلي. په لومړيو پړاوونوکې دا وسيلې خورا ساده وې، خو وروسته يې  ورو، ورو خورا ښه وسايل اختراع کړل. د مثال په توګه: په لرغونو زمانو کې انسانانو پلي سفرونه کول. لـه آس، اوښ او نورو حيواناتو څخه يې ګټه اخيستله، وروسته يې ګاډۍ چې آس راښکله، جـوړه کړه او بيا موټر هم اختراع شو. زموږ په زمانه کې له موټر، الوتکې، بيړۍ، اورګـاډي او نورو څخه د مسافرت لپاره ګټه اخيستل کيږي. البته په راتلونکي کې به  نور خورا ښـه وسايل اختراع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کاروونه چې موږ غواړو سرته يې ورسوو نوموړي وسايل دا کاروونه په چټکه او آسانه ترسره کوي او په ځينو وختونو کې هغه کاروونه چې دغه وسايل يې سرته رسوي موږ د هغوی د سرته رسولو توان نه لرو.

د ساري په توګه: په هوا کې له الوتکو او په سيندونو کې له بيړيو څخه پرته سفر کولای نه شو. نو ځکه هغه وسايل چې کاروونه په چټکتيا او خورا ښه توګه ترسره کوي، د ماشين په نامه ياديږي.

**ارزونه:**

۱- ولې موږ انسانان له ماشين څخه ګټه اخلو؟

۲- د کوهي د اوبو د را ايستلو لپاره له خرخ څخه ګټه اخيستل کيږي. ستاسې په نظر آيا د کوهي خرخ يو ماشين دی؟

۳- په کور کې له کومو ماشينونو څخه ګټه اخلئ؟

**کورنۍ دنده:**

هغو وسايلو چې ستاسې د کور کاروونه خورا آسانه کړي دي کوم دي؟ نومونه يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساده ماشینونه



موخې:
زده کوونکي باید ساده ماشینونه وپیژني او په ورځني ژوند کې د هغوی د کار په څرنګوالي باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنه:**
ستاسې په فکر خورا ساده ماشینونه کوم دي؟

د زده کوونکو فعالیتونه

**مقابل شکل ته په ځیر وګورئ:**

- هغه وسیله چې د یوې ډبرې د خوځولو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل شوې ده، پیژنئ؟
- آیا پرته له دې وسیلې څخه دا سړی تیږه خوځولی شي؟
- آیا ویلای شو چې دا یو ماشین دی؟




(۱)شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)شکل

- په دې شکل کې يو سړي د کارتن د پورته کولو لپاره يوه تخته په مايل ډول ايښې ده. آيا دې تختې د پورته کولو کار آسانه کړی دی؟
- آيا د لرګي دې تختې ته ماشين ويلی شو؟



(۳) شکل

دا سړی د څرخ په وسيله يو وزن پورته کوي.

- آيا ويلی شئ چې دغه سړی رسۍ کومې خواته را کاږي؟
- وزن کوم لوري ته راښکل کيږي؟

تاسوته د وزن پورته راښکل آسان دي اوکه ښکته کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

**کله چې موږ له ماشين څخه خبرې کوو، لويو ماشينونو، لکه: الوتکه، موټر، ټراکټور، د شميرنې ماشين او نور زموږ فکرونو ته راځي. که ددې لوست فعاليتونو ته پام وشي، ساده وسيلې هم شته چې موږ ته کارونه خورا آسانوي. لکه په (۲) شکل کې هغه تخته، چې په مايل ډول ايښودل شوې وه زموږ کار خورا آسانوي، ځکه په مستقيم ډول د کارتن پورته کول خورا سخت دی. دا ډول ساده وسايل چې د کار د اسانتيا لپاره کارول کيږي د ساده ماشينونو په نامه يادېږي.**

**د ساده ماشينونو بل ډول چې په شکل کې ليدل کيږي د کوهي څرخ دی. په دې څرخ کې رسۍ ښکته خواته را کاږو، خو د اوبو سلواغې پورته حرکت کوي. نو ځکه ښکته راښکل له پورته کشولو څخه خورا آسانه دي.**

**جبل (رافعه) يو ساده ماشين دی، چې د هغه په وسيله يوه لويه تيره خوځول کيږي.**

| |
|---|
| **ارزونه:**<br>۱- ساده ماشين څه شی دی؟<br>۲- د څو ساده ماشينونو نوم واخلئ او ووایاست چې څرنګه کار کوي؟<br>۳- د لرګي د ماتولو په وخت کې له کومې وسيلې څخه ګټه اخلئ؟ آيا هغه وسيلې ته چې په لرګو ماتولو کې ور څخه ګټه اخلئ، ساده ماشين ويل کيږي؟ |



**کورنۍ دنده:**

**په کار کولو کې مو ساده ماشينونه وپيژندل.**

**هغه ساده ماشينونه چې په کور کې ور څخه ګټه اخلئ، نومونه يې واخلئ او د ګټې اخيستلو طريقې يې وليکئ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرکب ماشینونه



**موخې:**

زده کوونکي باید مرکب ماشینونه او د هغوی د کار طریقې وپیژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**


۱– ستاسې له نظره یو وزن له ځمکې څخه څرنګه خورا آسانه پورته کیږي؟

۲– ستاسې له نظره بایسکل څه ډول ماشین دی؟

**د زده کوونکو فعالیتونه**

۱– آیا هغه وسیلې ته چې په شکل کې ښوول شوې ده، ساده ماشین ویلی شئ؟






(c) ketabton.com: The Digital Library



ب شکل



الف شکل

۲- الف- شکل د کوهي یو خرخ ښيي، چې پخوا ور سره آشنا شوي یاست او پوهیږئ چې خرخ یو ساده ماشین دی.
آیا (ب) شکل پیژنئ؟ ویلی شئ چې هغه هم یو ډول ماشین دی.



اوس پورتني شکل ته ځیر شئ. هرومرو هغه پیژنئ. اوس هغه جوړښت ته په ځیر پام وکړئ. آیا کولای شئ چې د هغه بیلابیلې اجزاوې وښیئ او نوم یې واخلئ؟
هره برخه یې له کوم بل ساده ماشین سره اړیکې لري.
دوه ساده ماشینونه چې ددې وسیلې په جوړښت کې کارول شوي دي، کوم دي؟
ستاسې له نظره زموږ لپاره دا دوه ساده ماشینونه یوازې ښه کار کوي او که په ګډه (په ترکیب شوي ډول).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

ساده ماشینونه زمونږ د اړتیا وړ ټول کارونه سرته نه شي رسولای. له دې کبله انسانان د خپلو کارونو د چټک او ښه تر سره کولو لپاره ساده ماشینونه یو ځای او ترکیبوي.

لاسي کراچۍ یو داسې ماشین دی چې له یو څرخ (ټایر) او یو جبل څخه له شکل سره سم جوړ شوی دی. دا ماشین مونږ ته کار یوازې د یو څرخ او د جبل په وسیله هم خورا ډیر غوره او په ښه توګه ترسره کولی شي.

مرکب ماشینونه هغه ماشینونه دي چې له دوو یاڅو ساده ماشینونو څخه جوړ شوي وي.

نن داسې مرکب ماشینونه جوړ شوي دي چې له سلګونو ساده ماشینونو څخه ترکیب شوي او خورا مهم کارونه ترسره کوي. لکه: موټر، بیړۍ، الوتکه او نور.



**ارزونه:**

هغه ماشین چې په شکل کې لیدل کیږي، تاسې یې پېژنئ. د هغه د عکس له مخې لاندنیو پوښتنو ته ځوابونه ووایئ.

۱- آیا پورتنۍ وسیله یو مرکب ماشین دی؟
۲- څو څرخونه د هغه په جوړښت کې موجود دي؟
۳- هر یو څرخ یې د څه لپاره جوړ شوی دی؟


**کورنۍ دنده:**

د څو مرکبو ماشینونو نومونه واخلئ چې تاسې ور څخه کار اخلئ.

# څلورم څپرکی

# ځمکه




موخې:

۱- زده کوونکي باید د ځمکې شکل وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د ځمکې په حرکتونو باندې وپوهیږي.

۳- زده کوونکي باید د ځمکې موقعیت وپیژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره ځمکه څه ډول شکل لري؟

۲ – ستاسې له نظره ځمکه حرکت لري او که ساکنه ده؟

۳ – ستاسې له نظره ځمکه په کوم ځای کې موقعیت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زده کوونکو فعالیتونه



- له شکل سره سم د ځمکې دکرې موډل او یا د لوبو یو توپ د لمرد وړانګې په مقابل کې کیږدئ او د هغوی سیورى د پردې یا دیوال پر سر وګورئ.
- د لمر وړانګې په مقابل کې کره یـا تـوپ ورو، ورو وڅرخـوئ او ویـې ګـورئ چې ددې کرې مُوډل بېلابېلې برخې څرنګه رڼا (ورځې) ته مخامخ کیږې چې د لمر راختل څرګندوي.
- برعکس د نوموړې کرې مُوډل روښانه برخه سیورې یـا تیاروتـه مخـامخ کیـږي چې د لمر پریوتل یې ښکاره کوي.
- عملاً وګورئ چې د لمر ختو په وخت کې د لمر وړانګې لومړى د ځمکـې پـه لوړو ځایو کې، یعنې په غرونـو او غونـډیو بانـدې لګیـږي او وروسـته د ځمکـې پرمخ خپرېږي.
- برعکس د لمر د لویدو په وخت کې لیدلاى شئ چې تر یـوې مـودې پـورې د لمر سور رنګه رڼا (نور) په فضا یا افق کې پاتې کیږي.

## متن:

- **ځمکه کروي شکل لري، ځکه که هواره واى، نو د لمر ختو په وخت کې به د لمر وړانګې (نور) یو دم د ځمکې د سطحې په ټولو برخو کې یو شان لګیداى او د لمر لویدو په وخت کې به په ناڅاپه ډول وړانګې ورکیدې او تیاره کیده به.**
- **ځمکه د خپل فرضي محور په شاوخوا چې له قطبینو څخه تیریږي دوراني (وضعي) حرکت لري چې دا حرکت د شپې او ورځې د منځته راتلو سبب کیږي.**
- **ځمکه پر محوري (وضعي) حرکت سربیره د لمر په شاوخوا کې هم حرکت کوي (انتقالي حرکت) چې د انتقالي حرکت په نتیجه کې څلور فصلونه (پسرلى، اوړى، منى او ژمى) منځته راځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ځمکې له وضعي او انتقالي حرکتونو څخه ثابته کیږي چې د نورو سیارو په شان د ځمکې موقعیت په فضا کې دی، نه پر کوم بل شي کې.
- ځمکه یا زموږ د هستوګنې ځای خاورینه کروي شکل لري چې زموږ د ژوندانه ټولې اړتیاوې ور څخه چمتو او زموږ د ژوند چاپیریال جوړوي او لکه د نورو سیارو په شان متحرک او په فضا کې موقعیت لري.

**ارزونه:**

۱- آیا ځمکه په خپله نور یا رڼا لري؟ که چیرې یې ونه لري له بلې کومې نوري سرچینې څخه ګټه اخلي؟

۲- څرنګه د ځمکې کروي توب ثابتولای شئ؟


۳- د کال څلور فصلونه د ځمکې د کوم ډول حرکت په نتیجه کې رامنځته کیږي؟

۴- د کال د څلورګونو فصلونو نومونه واخلئ؟



**کورنۍ دنده:**

په خپلو کتابچو کې د ځمکې د موقعیت، جوړښت او حرکت په هکله خپل معلومات ولیکئ.



Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځمکې پرسطحه بدلونونه او منظرې




(۱) شکل یوه طبیعي منظره



(۲) شکل یوه طبیعي بدلون موندلې منظره



(۳) شکل یوه طبیعي منظره چې د انسان د مداخلې په اثرېې تغیر موندلی



(۴) شکل یو طبیعي منظره چې د طبیعي حوادثو په اثر یې تغیر موندلی

موخې:

۱-زده کوونکي باید پوه شي چې د ځمکې پر سطح باندې کوم بدلونونه رامنځته کیږي.

۲-زده کوونکي باید هغه عوامل وپیژني چې د ځمکې پر سطح باندې بدلون راوړي.

۳-زده کوونکي باید وپوهیږي چې څرنګه د ځمکې په سطح باندې منظرې بدلون مومي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره کوم شیان د ځمکې د سطحې او د منظرې د بدلون سبب کیږي؟

۲- آیا انسانان د ځمکې د سطحې او د منظرې د بدلون سبب کیدای شي؟

Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زده کوونکو فعالیتونه



- تاسو په هغه شکل کې چې د ځمکې د سطحې له یوې سیمې څخه اخیستل شوي دي او د ځمکې د منظرې په نوم یادیږي کوم شیان په کې وینئ؟
- د ځمکې د سطحې په منظره کې سر بیره پر غرونو، درو، غونډیو، رودونو نور کوم په زړه پورې شیان وینئ؟
- د هغو بدلونونو په هکله چې د ځمکې په سطحه کې رامنځته شوي دي له یو بل سره مشوره وکړئ چې دا بدلونونه څه شي وو او د ځمکې پر سطحه کې کوم نوي شیان منځته راغلي او کوم شیان له منځه تللي دي.

## متن:

**د طبیعي عواملو لکه: واوره، باران، باد، ګرمي، یخني، د انسانانو مداخله، د نباتاتو وده، د حیواناتو ګرځیدنه، د اوبو بهیر، سیلابونه او د نورو د اغیزې له امله د ځمکې په سطحه کې بدلونونه رامنځته کیږي. دا بدلونونه په تدریجي ډول ورو، ورو بنه نیسي، څکه چې په یوه لنډه موده کې د احساس وړ نه وي. خو که چیرې د ځمکې هماغه سطحه له څو کلونو څخه وروسته وکتل شي زیات بدلونونه په کې لیدل کیږي.**

**د ځمکې په سطحه کې زیاتره ددې بدلونونو په اغیزه د هغې د شکل او منظره هم بدلون مومي. د ساري په توګه د ویروونکو سیلابونو او سختو طوفانونو د تخریباتو د رامنځته کیدو په نتیجه کې په یوه لنډه موده کې زیات بدلونونه منځته راځي. که چیرې د هماغه سیمې پخوانۍ او اوسنۍ منظره سره پرتله شي، نو یو له بل څخه به خورا زیات توپیر ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اصل کې د ځمکې په سطحه کې د جوي عواملو (باد او باران) په اثر بدلونونه رامنځته کيږي. څرنګه چې غټې تيږې ماتيږي او د سيندونو د اوبو د بهير په وسيله ميــده او وړه کيږي او په شګو او خاورو بدليږي.

د پورتنيو عواملو برسيره د انسانانو د مداخلې په اثر چې د ژوندانه د اړتياوو د ليرې کولو لپاره کښت او کرنه کوي، باغونه، ځنګلونه، کاريزونه، ويالې، کانالونــه، کورونــه او سړکونه جوړوي، د همغه سيمې د ځمکې په سطحه د شکل او منظرې له مخې بــدلون مومي.

**ارزونه:**

۱ – تاسو په خپلې سيمې کې کلنې بدلونونه احساسولی شئ.
۲ – دا بدلونونه د کومو عواملو په اثر رامنځته کيږي؟
۳ – آيا دا بدلونونه د ځمکې د سطحې په منظره باندې اغيزه کوي؟
۴ – څټک بدلونونه د ځمکې د سطحې په منظرو کې د کومو عواملو په اغيز رامنځته کيږي؟



**کورنۍ دنده:**

۱- په خپل چاپيريال کې د يوې ښې او په زړه پورې منظرې د رامنځته کيدو لپاره د څه ډول بدلونونو غوښتنه کوئ؟
۲- هغه بدلونونه او عوامل په خپلو کتابچو کې وليکئ، چې ستاسو له کور او ښار څخه په ليرې پرتو سيمو کې رامنځته شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی
# خواړه



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید خواړه او د هغې سرچینې وپیژني.

۲- زده کوونکي باید په روغتیا باندې د خوړو په اغیز او اهمیت وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره خواړه څه شی دي او د خوړو سرچینې کومې دي؟

۲- ستاسو په فکر د انسان د روغتیا لپاره خواړه څه اهمیت لري؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- د هغو خوړو نومونه ولیکئ چې په خپلو کورونو او یا د ښوونځي د تفریح په وخت کې یې خورئ.
- لطفاً ولیکئ چې دا خواړه له کومو شیانو څخه ترلاسه کیږي؟
- هغه زده کوونکي چې ډېر فعالیت کوي له کوم ډول خوړو څخه ګټه اخلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- کوم شیان چې خوړل کیږي او ښنبل کیږي او د انسان لپاره له جذب او هــضم کیدو وروسته ځواک او انرژي برابروي، خواړه ورته ویل کیږي.
- ټول هغه خواړه چې انسانان ورڅخه ګټه اخلي له دوو مهمو سرچینو څخه ترلاسه کیږي:

۱ – حیواني سرچینه

۲ –نباتي سرچینه

هغه خواړه چې له حیواني سرچینوڅخه ترلاسه کیږي، له غوښې، د چرګــو لــه هګیو، غوړیو، شیدو او نورو څخه عبارت دي.

- هغه خواړه چې له نباتي سرچینو څخه ترلاسه کیږي له غلو، دانو، میوو او ســبو څخه عبارت دي.
- خواړه د بدن د روغتیا او سلامتیا او د ژوندانه د فعــالیتونو لپــاره، لکــه: وده، انکشاف، کار ، فکر ، ځغستلو او نورو د تر سره کولو لپاره لازمي شرط ګڼــل کیږي.
- د بشپړې روغتیا او سالم بدن لپاره له بیلابیلو خوړو څخه ګټه اخیستل یو لازمي، ضروري او ګټور کار دی.

**ارزونه:**

۱- تاسې فکـر وکـړئ او ویـې لیکـئ چـې د لـوږې پـه وخـت کـې څـه شـی احساسوئ؟

۲- کوم ډول خواړه په ښه توګه ستاسې لوږه توب او ستړیا لرې کوي؟



**کورنی دنده:**


۱- تاسې په خپلو کورونو کې له کومو غذایي سرچینو څخه ګټه اخلئ؟

۲- د هغو خوړو نومونه ولیکئ چې تاسې یې د یوې اوونی په اوږدو کې خورئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# میوې




موخې:

۱- زده کوونکي باید میوې او د هغوی سرچینې وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د بدن د روغتیا او سلامتیا لپاره د میوو په اهمیت وپوهیږي.

**د انګیزې د رامنځته کیدو پوښتنې:**

۱ - ستاسې له نظره میوې له کوم ځای څخه ترلاسه کیږي؟

۲ - ستاسې په فکر د انسان د روغتیا او سلامتیا د ساتنې لپاره د میوو خوړل څه اهمیت لري؟




- لـه پورتـه شـکل سـره سـم پـه څیـر سـره ولیکـئ چـې ستاسـې پـه کورونو او د ښوونځي په باغچه کې کومې میوې پیداکیږي؟
- له یو بل سره د میوو د اهمیت په هکله د نظر تبادله وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- په عمومي ډول میوې له میوه لرونکو ونو څخه ترلاسه کیږي.
- میوې د هغو غذایي موادو له جملې څخه دي، چې د انسان بدن روغ ساتي.
- میوې د ویټامینونو بېلابېل ډولونه لري.
- د انسان روغتیا او سلامتیا د میوو په خوړلو ساتل کیږي. د ساري په توګه، منې له هغو با ارزښته میوو څخه دي چې د زړه د پیاوړتیا سبب کیږي.
- د انسان د سلامتیا لپاره د تازه میوو په شان وچې میوې هم مهم رول لوبوي. د مثال په توګه بادام یوازینۍ میوه ده چې اعصاب پیاوړي کوي.
- میوې له پاک مینځلو څخه وروسته باید وخوړل شي.

**ارزونه:**

۱ – د میوو په هکله هرڅه چې مو زده کړي دي ویې لیکئ.

۲ – کوم ډول میوې په تازه او وچ شکل خوړل کیږي؟ نوم یې واخلئ.

۳ – هغه میوې چې تاسې یې خورئ او په افغانستان کې نه کرل کیږي، نوم یې واخلئ.




**کورنۍ دنده:**

د هغو میوو نومونه ولیکئ چې د کال په بېلابېلو فصلونو کې ستاسې په چاپېریال کې پیداکیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سابه




**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د سبو او د هغو ډولونه وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د سبو د خوړلو طریقې اوګټې وپیژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسو له نظره کوم ډول نباتاتو ته سابه وايي؟

۲ – سابه اومه خوړل کیږي او که پاخه او کومې ګټې لري؟

**د زده کوونکو فعالیتونه**



- پورتني شکل ته ځیر شئ او وګورئ چې نور کوم ډول سابه پیژنـئ. د هغوی نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
- په خپل منځ کې مشوره او مفاهمه وکړئ، چې د کومو سـبو ریـښې، د کومو سبو ساقې، د کومو سبو پاڼې، د کوم ګل او د کومو سبو میوې خوړل کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- هغو نباتاتوته سابه وايي چې زياتره د وښو او يا د بوټي په شکل شنه کيږي.
- پالک، دنيا (گشنيز)،گندنه، مولۍ، گازره، ټيپر، کاهو، گلپي، کدو، تره، بادرنگ او نور سابه دي.
- ځينې سابه اومه خوړل کيږي، لکه: گازره، مولۍ، گشنيز، گندنه، کاهو، تره، بادرنگ او نور.
- ځينې سابه په پاخه ډول خوړل کيږي، لکه: پالک، ټيپر، کرم، گلپي، کدو او نور.
- يو شمير سابه هم په اومه او هم په پاخه ډول خوړل کيږي، لکه: دنيا، پياز، گازره،کرم، رومي بانجان او نور.
- په عمومي توگه سابه له نباتاتو څخه ترلاسه کيږي او د انسانانو د ورځنيو خوړو عمـــده برخه جوړوي.
- سابه هم د ميوو په شان د ويټامينونو، منرالونو، بيلابېل ډولونه لري، لکه: اوسپنه، کلسيم او نور چې د هغوی خوړل زموږ د بدن د سلامتيا د ساتنې سبب کيږي، نو ځکه د پخولو په وخت کې د سبو اوبه بايد ضايع نشي.
- گازره د نبات له ريښې، پټاټو له ساقې، پالک، دنيا، او پياز او باغي ويلنې (نانا) له پاڼو، گلپي له گل، تره او بادرنگ له ميوې څخه ترلاسه کيږي او د انـــسان د اســـتفادې وړ گرځي.
- سابه د غذايي موادو په توگه او هم د ژوند د اړتيا وړ ويټامينونو او منرالونو په لرلو ډېره زياته گټه لري.

### ارزونه:

۱- هغه سابه چې ستاسې په چاپيريال کې د کال په بېلابېلو فصلونو کې پيداکيږي له فصلونو سره يې نوم واخلئ.
۲- د انسان د روغتيا او سلامتيا لپاره سابه څه اغيزه او کوم اهميت لري.
۳- ولې بايد د سبو اوبه د پخولو په وخت کې ضايع نشي.



### کورنۍ دنده:

له مور او پلار سره مشوره وکړئ چې ستاسې د ورځني لگښت سابه څنگه لاس ته راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حبوبات

لوبیا | نخود (چڼې) | مۍ



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید حبوبات او د هغوی سرچینې وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د حبوباتو په غذايي اهمیت باندې وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱. ستاسې له نظره حبوبات څه شی او له کوم شي څخه ترلاسه کیږي؟

۲. ستاسې د کتنې په اساس له حبوباتو څخه د څه ډول غذايي موادو په توګه ګټه اخیستل کیږي؟



د زده کوونکو فعالیتونه

- هغه غذايي مواد ولیکئ چې د حبوباتو په توګه یې پیژنئ.
- د هغوغلو او دانو په هکله په خپل منځ کې له یو بل سره خبرې وکړئ، چې تاسې یې زیاتره خورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- حبوبات د نباتاتو له دانو څخه عبارت دي، لکه: لوبیا، چنې (نخود)، مشنګ، باقلۍ او نور.
- حبوبات په عمومي توګه په پاخه ډول خوړل کیږي، ځکه چې له غذایي موادو او نباتي پروټینو څخه برخمن دي.
- د بدن دودې، انکشاف او سلامتیا لپاره د حبوباتو (غلو دانو) خوړل مهم رول لوبوي.
- له دې کبله چې د حبوباتو پوټکی ډېر نباتې پروتین لري، نو ځکه د پخولو په وخت کې باید هڅه وشي ترڅو د حبوباتو پوټکی لرې نه شي.
- حبوبات د پروټیني موادو په لرلو د بدن په ودې او انکشاف کې مهمه اغیزه لري او د ډېر اهمیت وړ دي.

**ارزونه:**

۱- حبوبات د کوم ډول غذایي موادو لرونکي دي؟

۲- حبوبات د بدن د کمزورتیا د مخنیوي لپاره څه اهمیت لري؟

۳- حبوبات په اومه یا پاخه ډول خوړل کیږي؟



**کورنۍ دنده:**


هغه حبوبات چې تاسې له ښوونځي څخه تر کوره پورې په لاره کې وینئ یادداشت یې کړئ او پخپلو کتابچو کې د ځینو شکل وکاږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوښــــــه







موخې:

۱- زده کوونکي باید غوښه او د هغې سرچینې وپیژني.

۲- زده کوونکي باید د غوښې په غذايي اهمیت باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱ – ستاسې له نظره غوښه له کومو سرچینو څخه ترلاسه کیږي؟**

**۲ – ستاسې په فکر غوښه د خوړو په توګه څه اهمیت لري؟**

د زده کوونکو فعالیتونه



- ددې په هکله چې تاسې د کومو حیواناتو له غوښې څخه ګټه اخلئ یو لـه بـل سره خبرې او فکر وکړئ او ویې لیکئ.
- په دې باب چې د غوښې خوړل د بدن د سلامتیا د ساتنې لپاره څه اهمیـت لري یو له بل سره پرې بحث وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- غوښه چې له حيواني سرچينو څخه ترلاسه کيږي، پياوړي او انرژي لرونکي خواړه دي.
- غوښه چې د بدن د ودې، انکشاف او تخريب شوې برخې د ترميم او د وينـــې درامنځتـــه کيدو لپاره اهميت لري، حيواني پروتين لري.
- غوښه له غوايي، پسه، چرګانو، وزې، کب او داسې نورو حيواناتو څخه ترلاسه کيږي.
- د ناروغ حيوان غوښه خوړل د ناروغيو د رامنځته کيدو سبب کيږي.
- د حيواناتو د ځګر خوړل د انسان د روغتيا لپاره ګټور دی، ځکه پر پروتينو سربيره ځينـــې ويټامينونه هم لري.
- غوښه بايد ښه پخه اوله پخېدو او نرميدو وروسته وخوړل شي.
- د غوايي غوښه که خامه او يا په نيمګړې پخه شوې وي نو خوړل يې د کدو دانې د چينجي د پيدا کيدو سبب کيږي.
- که چيرې د چرګې او ماهي (کب) غوښه له لازم حد څخه زياته پخه شي ويټامينونه يې لـــه منځه ځي.
- غوښه له هغو پروتيني خوړو څخه ده چې د بدن د غښتلتيا او د ودې لپاره فوق العاده اهميت لري.

**ارزونه:**

۱- د بدن د روغتيا او سلامتيا د ساتنې لپاره د غوښې خوړل څه اهميت لري؟

۲- غوښه ولې بايد په پاخه ډول وخوړل شي؟

۳- د پروتينو نباتي او حيواني سرچينې راخرګندې کړئ؟




**کورنۍ دنده:**

له خپلو پلرونو او ميندو څخه پوښتنه وکړئ، چې د نومړو حيواناتو له غوښې پرته د نورو کومو حيواناتو له غوښې څخه ګټه اخيستل کيدای شي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوار ځواكي (سؤتغذي)



موخې:

۱- زده‌کوونکي باید خوار ځواکي (سوء تغذي) وپیژني.

۲- زده‌کوونکي د خوار ځواکۍ په علت باندې باید پوه شي.

۳- زده‌کوونکي باید د خوار ځواکۍ په مخنیوي باندې وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره خوار ځواکي (د سوء تغذي) څه شی او څه مفهوم لري؟

۲- د ستاسې په فکر ولې خوار ځواکي رامنځته کیږي؟

۳- د خوار ځواکۍ د مخنیوي لپاره باید څه وشي؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- گرانو زده کوونکو! د خپل کور، ښوونځي په چاپیریال کې ماشومان وگورئ.
- آیا ټولو کوچنیانو یو ډول وده کړې او که د ځینو وده د نورو همزولو په نسبت وروسته پاتې شوې ده؟
- تاسې د داسې کوچنیانو په هکله څه ډول فکر کوئ چې ولې له ودې او انکشاف څخه وروسته پاتې شوي دي؟
- د خپلو همزولو کوچنیانو د تغذیې د ډول په هکله له یو بل سره بحث وکړئ آیا کولای شئ په علت یې وپوهیږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

- هغه کوچنیان او کمکي زلمیان چې له طبیعي ودې او انکشاف څخه وروسته پاتې شویدي په خوار ځواکۍ باندې اخته دي.
- خوار ځواکي هغه مهال رامنځته کېږي چې د اړتیا وړ انرژي لرونکي او پروتیني خواړه او میوې په بشپړه توګه بدن ته ونه رسیږي. خوار ځواکي په هغو کوچنیانو کې رامنځته کیږي چې په پوره ډول ورته د مور شیدې ور ونه رسېږي او یا له شیږ میاشتنۍ وروسته سربیره د مور له شیدو څخه نور ضمني خواړه ورته ورنه کړل شي.
- د خوار ځواکۍ د مخنیوي لپاره باید:
- ماشوم باید د مور له شیدو څخه په کافي اندازه (دوه کاله) تغذیه وکړي.
- کوچنیانو ته باید له شپږ میاشتنۍ څخه وروسته په کافي اندازه نور اضافي خواړه لکه: غوښه، کب، هګۍ، شیدې، لوبیا، میوې او سابه ورکړ شي.
- که چیرې په کوچنیانو کې د ژوند په لومړیو وختونوکې په متو او ورنونو کې ډنګرتوب او پرمخ او نس باندې پرسوب ولیدل شي، باید د درملنې لپاره د مور او ماشوم روغتیايي مرکزونو ته مراجعه وکړي.
- د تنکیو ځوانانو لپاره چې د ودې او انکشاف په حالت کې وي باید پروتیني، شحمي، کاروبو هایدریتي او ویټامیني (میوې او سابه) خواړه برابر شي.

**ارزونه:**

۱- د بدن په ودې کې خوار ځواکي څه اغیزه لري؟

۲- زیاتره کوم کسان په خوار ځواکۍ باندې اخته کیږي؟

۳- د خوار ځواکۍ باندې د اخته کیدلو د مخنیوي لپاره څه وکړو؟

**کورنۍ دنده:**

۱- کوم کارونه باید ترسره شي، چې ستاسې بدن په طبیعي ډول وده وکړي؟

۲- د خپل ضرورت وړ متوازنو خوړو د برابرولو لپاره له کومو سرچینو څخه ګټه اخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی
# نظافت او پاکوالی



موخې:

۱- زده کوونکي باید د خپل بدن، کور، جامو، کوڅې او ښار د پاکوالي د اهمیت په هکله معلومات ترلاسه کړي.

۲- زده کوونکي باید ډاډه شي چې د ښې روغتیا او سالم فکر بنسټ د روغتیا ساتنې مراعاتول دي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱ – ددې لپاره چې زموږ کور، کوڅه او ښار پاک وي، ستاسې په نظر کوم ډول تدبیرونه باید ونیول شي؟**

**۲ – ستاسې په فکر یو ښه ښاري یا کلیوال باید د خپل کور کوڅې او ښار د نظافت په هکله څه ډول عمل وکړي؟**

د زده کوونکو فعالیتونه



- زده کوونکي دې د کور، کوڅې او ښار د پاکۍ او صفایي د اهمیت په هکله له یو بل سره خبرې وکړي.

- که چیرې زموږ کور، کوڅه او ښار ناوړه او ناپاکه وي او فاضله مواد په خپلو مخصوصو ځایونو کې ځای پرځای نه شي زموږ په روغتیا او د هیواد والو په روغتیا باندې کومه بده او ناوړه اغیزه لري. په دې هکله خبرې اترې وکړئ؟

Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د ښه ژوند بنسټ ځان پاک ساتل، پاک خوړل او پاک ژوند کول دي.
- د ښې روغتیا او سالم فکر بنسټ د بدن، غاښونو، پزې، کور، کالیو، کوڅې او ښار پاکوالي او نظافت ته پاملرنه ده.
- میکروبونه تل له هغو خلکو سره ملګري وي چې خپل نظافت ته پاملرنه نه کوي. په خپلو کوټو او د کوچنیانو د لوبو په ځایونو کې د سپي، ناولې پیشو، موږکانو او نورو حیواناتو له ننوتو څخه مخنیوی وکړئ. سپي مه پرېږدئ چې تاسې وختي او یا ستاسې په خونو کې در ننوزي، ځکه ځینې ناروغۍ د سپیانو په وسیله را منځته کیږي. ددې لپاره چې خزندې او حشرې ستاسې کورونو ته ور داخلې نه شي د کور سوري بند کړئ.
- د استوګنې له خواو شا څخه باید کندې او ډنډونه له مینځه یوړل شي. ددې لپاره چې زموږ روغتیا ته زیان ونه رسیـــږي باید پاتې شونې (فاضله مواد) او خځلې په ټاکلي ځـــایـــونـــو کې غونډ کړای شي.

**ارزونه:**

۱- نظافت او پاکوالی څه اهمیت لري؟

۲- روغتیا ساتنه ولې مراعات کړو؟



**کورنۍ دنده:**

په خپلو کتابچو کې د خپلې کوڅې او ښار د روغتیا ساتنې په هکله څو کرښې ولیکئ.





Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوړو پاکه ساتنه



موخې:

۱- زده کوونکي بايد د روغتيا او سلامتيا د ساتنې لپاره د پاکو خوړو په اهميت باندې وپوهيږي.

۲- زده کوونکي بايد په دې باندې وپوهيږي چې د ناپاکه او باسي(شپيني) خوړو خوړل د ناروغۍ سبب کيږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱ - ستاسې له نظره له کومو خوړو څخه بايد زياته ګټه واخلو چې زموږ بدن ته ګټور وي.**

**۲ - تاسې څه فکر کوئ چې د خوړلو په وخت کې خولې ته ميکروبونه داخليداى شي؟**

د زده کوونکو فعاليتونه



- په دې هکله مفاهمه او مشوره وکړئ چې آيا ستاسې په نظر روغتيا دپاکو خوړو له خوړلو سره کومه اړيکه لري؟ آيا ناپاکه يا له شپې څخه د پاتې خوړو خوړل د انسان د ناروغۍ سبب کيږي؟
- ستاسو په فکر د نظافت رعايتول څرنګه د ميکروبونو د خپريدو مخه نيسي؟
- يو له بل سره د ښې روغتيا او هوسا ژوند د لرلو په هکله مشوره وکړئ او د خوړو د حفظ الصحې په هکله مباحثه وکړئ او نتيجه يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

- له خوړلو څخه مخکې  باید لاسونه ښه پاک پريمنځل شي. پاک او ګټور خواړه هغه دي چې ښه پاخه شوي وي.
- باسي او له شپې څخه د پاتې شوو خوړو له خوړلو څخه باید ډډه وشي. هغه اوبه چې د خوړو پخولو لپاره ور څخه ګټه اخیستل کیږي باید له فاضله او ناوړو موادو څخه لرې وساتل شي. پاخه شوي خواړه باید ساړه او په پوښ لرونکي لوښي کې وساتل شي. په اومو خوړو کې میکروبونه (واړه ذره بیني اجسام) ژوندي پاتې کیږي، نو ځکه باید خواړه ښه پاخه شي. پخلنځی او شاوخوا يې باید پاک او سپیڅلی وي.
- پخه شوې غذا چې د خوړلو لپاره ساتل کیږي باید ترخوړلو د مخه زیاته تودوخه ورکړل شي او ښه جوش ورکړل شي. د پخلي لوښي باید د غذا له خوړلو څخه مخکې او وروسته پاک پريمنځل شي.

**ارزونه:**

۱- د روغتیا او سلامتیا لپاره دپاکو خوړو خوړل څه اهمیت لري؟

۲- د ناپاکه او باسي خوړو خوړل د انسان د بدن لپاره کوم تاوان لري؟



**کورنۍ دنده:**

د خوړو د حفظ الصحې په هکله په کور کې د خپلو پلرونو او میندو سره مشوره وکړئ. څوکرښې ولیکئ او خپل یادداشتونه په ټولګي کې ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بدن پاکوالی (نظافت)



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د روغتیا او پاکوالي ترمنځ اړیکي وپيژني.

۲- زده کوونکي باید د غاښونو پاکوالی، د غاښونو د برس او مسواک کولو اهمیت او د پزې په نظافت پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره نظافت، روغتیا او غښتلتیا څه اړیکې لري؟

۲ – څه فکر کوې چې د غاښونو برس کول روغتیا ته څه اهمیت لري؟

۳ – آیا د پوزې پاکوالی د بدن پر نظافت باندې اغیزه لري؟

**د زده کوونکو فعالیتونه**




- تاسو ټول خپلو بدنونو ته پام وکړئ او یو له بل سره مفاهمه او مشوره وکړئ چې آیا د پاک او روغ بدن لپاره څه وکړو؟
- کوم شی د بدن د بد بویي سبب کیږي؟
- څه ډول خپل غاښونه او پزه پاکه وساتو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن :**

- د بدن پاکوالي ته پاملرنه د ښې روغتیا او روغ فکر سبب کیږي. له کار او سپورت وروسته، په تیره بیا په تودوخې کې، چې زموږ بدن خولې کوي او ښایي بد بوی ولري، باید ځان پرېمنځو.
- د بدن پر پوټکي باندې خولې د بدن د خیرنتوب سبب کیږي. میکروبونه په ناولتیا او خیرنتیا کې په ښه توګه وده کوي او د جلدي ناروغیو سبب کیږي. د اوبو او صابون په وسیله د بدن پریمنځل د خولې بد بوی او خیری له مینځه وړي، نو ځکه هره ورځ او یا په اوونۍ کې درې وارې په پاکو اوبو او صابون سره د بدن پریمنځل لازمي کار دی.
- له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته باید خپل غاښونه برس یا مسواک کړو.
- د غاښونو د برس کولو طریقې په لاندنیو شکلونو کې ښودل شوي دي:



(c) ketabton.com: The Digital Library

- په پزه کې کوچني ويښتان شته چې سړوته د خاورې او دوړو مخنيوی کوي.
دا ويښتان د تنفس په وخت کې سړوته د ګرمې او پاکې هوا د ننوتو سبب کيږي، نو ځکه بايد تل خپله پزه پاکه وساتو.
- هوا بايد د پزې له لارې تنفس کړو. خپل نوکان تل پريکړو، ځکه ميکروبونه تر نوکانو لاندې ځای نيسي.

**ارزونه:**
١- ځرنګه کولای شو په خپلو خولو کې د ميکروبونو د ننه وتو مخه ونيسو؟
٢- ددې لپاره چې زموږ ټول غاښونه پاک شي، ځرنګه خپل غاښونه بـرس يـا مسواک کړو.



**کورنی دنده:**
١- په خپلو کتابچو کې د غاښونو د برس کولو او مسواک کولو د طريقې په هکله څوکرښې وليکئ.
٢- که چيرې د ناپاکو لاسونو او اوږدو نوکانو په وسيله خواړه وخورو زموږ د روغتيا لپاره کومه ناوړه اغيزه لري، ولې؟
پر دې موضوع په خپلو کتابچو کې څوکرښې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جامو پاکوالی



**موخې:**

۱- زده کوونکي باید د پاکو جامو اهمیت او د هغو اړیکې له نظافت او روغتیا سره وپیژني.

۲- زده کوونکي باید په ډله ییز ژوند کې د جامو د نظافت په اهمیت باندې وپوهیږي.

**ښوونکې پوښتنې:**

۱ – د انسان په ژوند کې د پاکو او منظمو کالیو په هکله فکر وکړئ او یادداشت یې کړئ.

۲ – ستاسې له نظره ناروغۍ او روغتیا د پاکو او ناپاکو کالیو سره څه اړیکې لري؟





- د پاکو جامو او د بدن د روغتیا او په ژوند کې د هغو په اهمیت باندې فکر وکړئ او یو له بل سره خبرې او مفاهمه وکړئ.
- آیا په خوله شوي بدن پاکې جامې آغوستل ښه دي، که بد؟
- کوم شی د جامو، د خوب د بسترو او د روجایي ګانو نظافت له منځه وړي؟
- آیا په پاکو جامو او بسترو کې میکروبونه ځای نیولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن:**

- د هرچا پاک او سوتره کالي خوښيږي. د بدن په روغتيا او پياوړتيا کــې پــاک او منظم کالي مرسته کوي. په پاکو کاليو کې ميکروبونه ځای نيولی نه شي. تل بايــد خپلې جامې پاکې وساتو. هغه اهلي حيوانات، لکه سپي، پيــشو او نــور چــې د ميکروبونو د ليږدونې سبب کيږي، بايد ځانته نږدې پــرې نــږدو. وروه، ســپږه، کټمل(خسک) د ډيرو ناروغيو سبب کيږي. بايد د درملوشيندلو په وسيله له کاليو او د خوب له بسترو څخه ليرې کړای شي.
- تل بايد جامې، د خوب کالي، بسترې او روجايي ګانې له مينځلو څخه وروسته اوتو شي او لمرته کيښودل شي.

**ارزونه:**

١- د انسان په روغتيا کې پاکې جامې څه اهميت لري؟
٢- ولې بايد خپلې جامې پاکې وساتو؟.
٣- په ډله ييز ژوند کې پاک او سوتره کالي څه رول لري؟



**کورنۍ دنده:**

په ګرمو او سړو موسمونو کې د مناسبو کاليو د اغوستلو د اهميت په هکله له خپلو کورنيــو او دوستــانو ســره مشـــوره وکـړئ او په لنډ ډول يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کور او چاپېريال پاکوالی



موخې:

۱- زده کوونکي بايد د پاک کور ساتنه وپېژني.

۲- زده کوونکي بايد په روغتيا باندې د کور پاکوالی او د پاک چاپېريال په اغيزو وپوهيږي.

۳- زده کوونکي بايد د کور چاپېريال له ککړېدو څخه په مخنيوي باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره کوم شيان زموږ د کور او چاپېريال د ککړتيا سبب کېږي؟

۲- څه فکر کوئ څه وکړو چې زموږ کور او چاپېريال ککړ او چټل نشي؟

د زده کوونکو فعاليتونه



- په دې هکله خبرې وکړئ چې يو پاک او سپيڅلی کور کومې ځانګړتياوې لري؟
- خپل ټولګی د خپل کور په شان وګڼئ او د هغه په پاک ساتلو کې په ګډه سره بحث وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- په يو پاک او سپيڅلي کور کې د کور ټول شيان او سامانونه په مناسبو ځايونو کې په منظم ډول پراته وي.
- د يو پاک کور په شاوخوا کې د ميکروبونو د ودې او خپريدو ځای نه وي.
- پاک او ښه کور په دې توګه جوړيږي چې د لمر وړانګې پکې ولګيږي.
- د منظمو او پاکو کورونو په انګړ کې بايد په مناسبو ځايونو کې زينتي ونې کښنول شي. چرګان او اهلي حيوانات چې د ميکروبونو د خپريدو سبب کيږي بايد له کورونو څخه ليرې په يوه مناسب ځای کې وساتل شي.

خځلې او چټلې دې په يو مناسب ځای کې له کور څخه بهر ښخ يا وسوزول شي.

**ارزونه:**

۱- پر روغتيا باندې د کور او چاپيريال پاکوالی څه اغيزه لري؟

۲- څرنګه کور او چاپيريال پاک ساتلای شو؟



**کورنۍ دنده:**

**د کور، کوڅې او ښار د روغتيا ساتنې په هکله له خپل پلار او مور سره تر مشورې وروسته څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی
## ناروغۍ او عوامل يې



**موخې:**

۱- زده کوونکي بايد د ناروغۍ حالت له روغتيا څخه توپير کړای شي.

۲- زده کوونکي بايد د ناروغۍ له ډولونو سره آشناشي.

۳- زده کوونکي بايد د ناروغۍ عوامل وپيژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې په نظر ناروغي څه ډول حالت دی؟

۲ – ناروغي د ژوندانه په فعاليتونو کې څه ډول بدلون رامنځته کوي؟

۳ – ستاسې له نظره انسان څرنګه په ناروغۍ اخته کيږي؟

د زده کوونکو فعاليتونه



۱- په دې کې فکر وکړئ او ويې ليکئ چې څرنګه ناروغه شوي وئ؟

۲- د ناروغيو هغه ډولونه چې پيژنئ په يو لست کې يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د بدن د نارمل حالت بدلیدوته ناروغي وايي.
- د انسان د ناروغتیا سبب د میکروبونو خپریدل، د ویټامینونو کموالی، غیر متوازنو خوړو اود چاپیریال ځینې عوامل دي.
- همدا شان شپینې خواړه (له شپې څخه پاتې)، ناوړه خواړه، ناپاکه اوبه، ککړه هوا هم د ناروغتیا سبب کیږي.
- ناروغي بیلابیل ډولونه لري، لکه: والګی، نسناستی او پیچش، غذایي تسممونه، کانګې، وچکی، دیفتري، کولرا (طاعون) ملاریا، لشمانیا (کالدانې) د هضمي سیستم د چنجیانو ناروغی او نور.
- ځینې ناروغی په مستقیم ډول د تماس په وسیله د هوا، اوبو، خوړو او نورو لارو له ناروغ انسان څخه روغو کسانوته لیږدول کیږي، لکه: والګی، توبرکلوز او نور.
- ځینې نورې ناروغی د اوبو، غذایي موادو (ناپاکه او ورستو سبو او میوو)، خاورې، باد او داسې نورو په وسیله لیږدول کیږي.
- ځینې ناروغی د یوې حشرې یا مخصوص لیږدوونکي حیوان په وسیله له ناروغ سړي څخه روغو کسانوته لیږدول کیږي، لکه: ملاریا، لشمانیا (کالدانې) او داسې نورې ناروغی.
- مچی، غوماشې، وروه، د وريې مور، خسک، موږک، میږي او نور د ناروغیو لیږدونکي بلل کیږي.

**ارزونه:**

۱- د څو ډولونو د ناروغیو نوم واخلئ.

۲- کوم شیان د انسان د ناروغی سبب کیږي.

۳- ناروغی په کوم ډول روغو او سالمو کسانوته لیږدول کیږي؟

**کورنی دنده:**

**۱- د ناروغیو د لیږدونکو نومونه ولیکئ.**

**۲- انسان څرنګه او په څه ډول په ناروغی اخته کیږي؟ په دې هکله یو څو کرښې ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناروغۍ لیږدونه



د ناروغیو لیږدونکي

موخې:

۱- زده کوونکي باید د ناروغي د خپریدو په څرنګوالي پوه شي.

۲- زده کوونکي باید هغه ناروغۍ چې په مستقیم ډول خپریږي، له هغو ناروغیو څخه توپیر کاندي، چې په غیر مستقیم ډول خپریږي.

۳- زده کوونکي باید د ناروغیو لیږدونکي وپیژني.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره ناروغۍ په څه ډول نورو ته خپریږي؟

۲ – ستاسې په فکر کومې ناروغۍ په مستقیمه توګه او کوم ډول يې په غیر مستقیم ډول خپریږي؟

۳ – د ناروغیو د لیږدوونکو په هکله څه فکر کوئ؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- د زده کوونکو لومړۍ ډله باید هغو ناروغیو نومونه ولیکي چې په مستقیم ډول خپریږي.
- دویمه ډله دې د هغو ناروغیو نوم واخلي چې په غیر مستقیم ډول خپریږي.
- دریمه ډله دې د ناروغیو د لیږدونکو نومونه ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ناروغۍ د اوبو، هوا، غذايي موادو (نامينځل شويو او ورستو سبو او ميوو)، خاورو او دوړو، مچانو او نورو حشراتو په وسيله ليږدول کيږي.
- ځينې ناروغۍ په مستقيمه توگه له ناروغ انسان څخه روغ انسان ته خپريږي، لکه: والگی، نری رنځ، او داسې نور.
- ځينې ناروغۍ له ناروغ سړي څخه روغو کسانوته د هغه د ځانگړي ليږدوونکي په وسيله په غير مستقيم ډول ليږدول کيږي. لکه ملاريا، لشمانيا (کالدانې) او داسې نور.
- غوماشی، مچۍ، ورږه، سپږه، کتمل، ميږي، موږک اونور د ناروغيو ليږدونکي دي.

**ارزونه:**

۱- کوم ډول ناروغۍ په مستقيمه توگه خپريږي؟

۲- کوم ډول ناروغۍ په غير مستقيم ډول خپريږي؟

۳- د ناروغيو د ليږدونکو نومونه واخلئ.



**کورنۍ دنده:**

د ناروغيو د ليږدوونکو په هکله په خپلو کتابچوکې څو کرښې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناروغۍ د لېږدېدو مخنيوي





موخې:

۱- زده کوونکي بايد د ناروغۍ د مخنيوي لپاره د واکسين په اهميت باندې پوه شي.

۲- زده کوونکي بايد د شخصي اوچاپېريالي روغتيا ساتنې پر ګټوباندې وپوهېږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې په فکر څرنګه د ناروغيو له خپرېدوڅخه مخنيوى وکړو؟

۲ – څرنګه له ناروغۍ څخه ځان وساتو؟

د زده کوونکو فعاليتونه



- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې سره بحث وکړي چې له ناروغيو څخه څرنګه ځان ژغورلى شي.
- دويمه ډله دې د بحث په ترڅ کې په ډاګه کړي چې د روغتيا په ساتلو او د ناروغيو د لېږدېدو په مخنيوي کې د شخصي، کورنۍ او د چاپېريال د حفظ الصحې مراعاتول څه اهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ټول نوي زیږیدلي ماشومان باید د شپږو زیانمنو ناروغیو، (نري رنځ، دیفتري، تورې ټوخلې، تیتانوس، ګوزڼ او د شري) په مقابل کې واکسین شي.
- په ناروغیو د اخته کیدو د مخنیوي پاکوالی او د حفظ الصحې مراعاتول سبب کیږي.
- په ساري ناروغیو باندې له اخته کسانو ګوښه اوسئ.
- پاک خواړه او پاکې اوبه په ناروغیو د اخته کیدو او لیږدیدو مخه نیسي.
- د مور شیدې ماشوم له ناروغۍ څخه ساتي.
- د ګیلډې د چنجیانو د خپریدو د مخنیوي لپاره تشنابونه او ټټی په سم او رغنده ډول باید جوړ کړای شي.
- د ناروغۍ لیږدونکو، لکه: موږکانو، مچیو، غوماشو، د وروړې د مور او نورو حشراتو د زیاتیدو مخه باید ونیول شي.

**ارزونه:**


۱- د ناروغیو د مخنیوي لپاره د حفظ الصحې مراعاتول څه اهمیت لري؟
۲- څرنګه حفظ الصحه (روغتیا ساتنه) مراعاتولی شو؟
۳- په ناروغیو د اخته کیدو او لیږدیدنې مخنوی څنګه کولای شو؟
٤- کوم شیان د ناروغیو د خپریدو سبب کیږي؟



**کورنۍ دنده:**

د ناروغیو د لیږدلو مخنیوي په هکله د خپلې کورنۍ د غړو نظریې ولیکئ.







Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ایډز ناروغي
# HIV/ AIDS



موخې:

۱- زده کوونکي باید د HIV/AIDS زیانونه وپیژني.

۲- زده کوونکي باید په HIV/AIDS د اخته کیدو د مخنیوي پر لاروچارو وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- آیا پوهیږئ چې ایډز HIV/AIDS څه ډول ناروغي ده؟

۲- ستاسي له نظره انسان څرنګه په HIV/AIDS باندې اخته کیږي؟

۳- کوم ډول تدبیرونه ونیول شي چې د HIV/AIDS په ناروغۍ باندې له اخته کیدو څخه مخنیوی وشي؟

د زده کوونکو فعالیتونه



۱- د زده کوونکو لومړۍ ډله دې د ساري ناروغیو نومونه ولیکي.

۲- دویمه ډله دې د ساري ناروغیو د خپریدو په لارو چارو د نظر تبادله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ایډز له خطر نه ډکه او وژونکي ناروغي ده چې زیات شمیر انسانان د هغه له امله له منځه ځي.
- ایډز یو ویروسي[1] ناروغي ده چې د انسان د وجود مقاومت کموي.
- په دې ناروغۍ باندې اخته کسان ورځ په ورځ کمزوري کیږي او هر ډول ناروغي او مکروب کولای شي چې هغه انسان پرې اخته شي.
- د ایډز ویروس د ناروغ انسان په وینه کې موجود وي.
- ایډز له ناروغ څخه د پیچکارۍ د ستنې په وسیله روغ انسان ته لیږدول کیدای شي.
- که چېرې د نایي (سلمان) چړې د ناروغ په وینې لړلې وي او له هغه څخه د نورو لپاره کار واخیستل شي د ایډز ناروغي نوروته خپریدای شي.
- له ناروغ څخه د وینې اخستلو له لارې سالم انسان ته انتقالیږي.
- که چېرې شیدې ورکوونکې میندې د ایډز په ناروغۍ باندې اخته وي، ناروغي ماشوم ته خپریږي.

په ایډز د اخته کیدو د مخنیوي لارې چارې:

۱ – باید د پیچکارۍ له نوې ستنې څخه ګټه واخیستل شي.
۲ – دغه راز د ویښتانو د خرېلو لپاره باید له نوې چړې څخه کار واخیستل شي.
۳ – که چیرې مور په HIV/ AIDs ناروغۍ باندې اخته وي باید خپل ماشوم ته شیدې ورنه کړي.
۴ – وینې ته د ضرورت په وخت کې وینه باید له سالم انسان څخه واخستل شي.

**ارزونه:**

۱- څرنګه د HIV/ AIDs ناروغۍ لیږدول کیږي؟
۲- د ایډز ناروغي انسان ته څه ډول زیان رسوي؟
۳- څرنګه د دې وژونکې ناروغۍ له لیږدیدو څخه مخنیوی کولای شو؟



**کورنۍ دنده:**

۱- د HIV/ AIDs ناروغي د لیږدیدو څرنګوالی په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
۲- د HIV/ AIDs ناروغۍ په هکله هغه څه چې مو زده کړي دي د خپلې کورنۍ له غړو سره پرې مباحثه وکړي.



---

[1]– ویروسونه کوچني ذره بیني موجودات دي چې د بېلابېلو ناروغیو سبب کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی
# لومړنۍ مرستې




موخې:

۱- زده کوونکي باید د لومړنۍ مرستې په اهمیت وپوهیږي.

۲- زده کوونکي باید په خپل ورځني ژوند کې لومړنۍ مرستې وکارولای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱ – ستاسې له نظره کوم وخت لومړنۍ مرستې ته اړ کیږو؟**

**۲ – تاسې د لومړنۍ مرستې د ګټې اخیستلو د اهمیت په هکله څه فکر کوئ؟**

**۳– آیا تاسو تر اوسه پورې له لومړنیو مرستو څخه ګټه ترلاسه کړې ده؟**

د زده کوونکو فعالیتونه



- ګرانو زده کوونکو تاسې په شکل کې څه شی وینئ، یو له بل سره په دې هکله مشوره وکړئ چې آیا تاسې د ټپي کیدو پیښې یا ځینې نور حالتونه، لکه: لاس او پښې ماتیدل لیدلي دي؟
- په دې باندې مو فکر کړی دی چې د پیښو په وخت کې له زیانمنو کسانو سره څرنګه مرسته کولای شئ؟

د مثال په توګه د موټر د ټکر په وسیله ټپي شوی شخص مخکې له دې چې روغتون ته ورسیږي څه ډول مرستې ور سره وکړو چې له منځه لاړ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- لومړنۍ مرستې هغه وخت زموږ لپاره د اهمیت وړ ګرځي چې له ناڅاپي پېښو سره مخامخ شو.

مثلاً: له موټر سره ټکر، سوځېدل، مار چیچل، په اوبو کې ډوبېدل او نور حالتونه چې زیان رسیدلی ناروغ له کلینک او روغتون څخه لېرې وي او روغتون ته تر رسیدو پورې کیدای شي د بیهوشۍ له کبله له منځه لاړ شي.

- ددې لپاره چې په دغو حالاتو کې خپلو نژدې خپلوانو، هېواد والو او ښاریانو ته د ښه خدمت لپاره جوګه شو، لازمه ده چې د مرستو رسولو مهارتونه او وړتیاوې زده کړو.
- د هرې ناڅاپي پېښې لپاره، مثلاً: سوځېدل، مار چیچل، ټپي کیدل او نورې ځانګړې لومړنۍ مرستې شته چې په راتلونکو لوستوکې به یې ووایو چې هریو زده کوونکی د ضرورت په وخت کې ور څخه ګټه واخلي.

**ارزونه:**

۱- که چېرې موږ د لومړنیو مرستو سره بلدتیا ونه لرو او له ټپي شوي سړي سره مخامخ شو آیا کولای شو له هغه سره سمه مرسته وکړو؟

۲- ستاسې له نظره ټپي کیدل څه شی دی؟





**کورنۍ دنده:**

په کورکې د لومړنۍ مرستې د اهمیت په هکله پنځه کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپي کیدل



**موخه:**
زده کوونکي باید په دې وپوهیږي چې په خپل ورځني ژوند کې د تپي شوي کس لپاره له لومړنۍ مرستې څخه ګټه او اخیستلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې له نظره انسان څرنګه تپي کیږي؟

۲- که چیرې زموږ د بدن کوم غړی تپي شي او د وینې بهیدل یې هم زیـات وي، ددې پیښې لپاره لومړنۍ مرستې څرنګه کارول کیږي؟

۳- آیا تاسې کومه پیښه چې د تپي کیدو او وینې بهیدو سبب شوی وي، لیدلې ده؟

د زده کوونکو فعالیتونه



۱- ددې په هکله چې تپي کیدل څه ته وایي پـه خپـل ټولګي کـې سـره مـشوره وکړئ.

۲- د بدن د یو غړي تپي کیدل، کومه نـاوړه اغیـزه لـري؟ د وینـې بهیـدنې څخه څرنګه مخنیوی کولای شو؟

۳- ددې دوو پیښو لپاره د لومړنۍ مرستې خورا ښه طریقه څرنګه سرته ورسوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- هره باندېنۍ قوه چې زموږ په بدن ناوړه اغېزه وکړي زموږ بدن ته زيان رسيدو او ټپي کيدو سبب کيږي. دا منفي اغيزه ښايي له ترافيکي پيښې څخه وي يا د نه پاملرنې په نتيجه کې. زموږ د بدن کوم غړی په خوټکيدلو اوبو، اور يا په تودو غوړو او داسې نورو سوځيدلی وي يا کوم سړی له بامه وغورځيږي او پښو او لاسونو ته يې زيان ورسيږي.
- که د بدن يو غړی ټپي يا پرې کړای شي ور سره جوخت کوچني او لوی رګونه هم پرې کيږي چې په دې صورت کې به په زياته اندازه وينه له بدن څخه وبهيږي او امکان لري چې ټپي شوی کس روغتون ته تر رسيدو د مخه تلف شي.

### لومړنۍ مرستې:

تر ټولو د مخه لازم دي چې ټپي شوی غړی پورته وساتل شي. که چيرې وينې بهيدل د سر له برخو څخه وي بايد زيان رسيدلی شخص دناستې حالت کې راوستل شي، ترڅو سر يې پورته واقع شي. که سر بيره له وينې بهيدو څخه د هغې برخې هډوکې ته هم زيان رسيدلی او مات شوی وي بايد حرکت ورته ورنه کړای شي. په هغه برخه کې چې وينه ور څخه بهيږي بايد يو پاک ټوکر کېښودل شي او کلک ونيول شي. که چېرې پاک ټوکر موجود نه وي د لاس په ذريعه ور باندې فشار راوړل شي. ځکه فشار د وينې درولو لپاره يوه ښه چاره شميرل کيدای شي. په پای کې تاوان رسيدلې برخه چې ور څخه وينه بهيږي د يو پنډ ټوکر په وسيله څرنګه چې په شکل کې ليدل کيږي، کلکه وتړل شي.

که چېرې د پيښې په اثر د بدن يو غړی، لکه لاس يا پښې او يا د هغوی ګوتې پرې شوې وي او له ځپل ځای څخه بيځايه شوې وي، په دې صورت کې زياته وينه ضايع کيږي چې د زيات وخت په تيريدو څخه د ناروغ د مړينې سبب کيږي. په دې حالاتو کې بايد له (تورنيکيت) څخه ګټه واخيستل شي.

تورنيکيت هغه پلن بنداژ ته وايي چې د تاوان رسيدلې برخې شاوخوا باندې داسې کلک تړل کيږي، چې د وينې وريدي او شرياني لارې بنديږي، ترڅو چې زيان رسيدلی سړی مخکې د وينې له ضايع کيدو څخه روغتون ته وليږدول شي او له ۲۰ دقيقو څخه وروسته تورنيکيت يوپلا خلاصيږي چې روغو رګونو ته وينه ورسيږي.

**ارزونه:**

۱- که په يوه ترافيکي پيښه کې يو څوک شي او د وينې بهيدنه هم زياته وي مخکې له دې څخه چې روغتون ته ورسول شي کومې لومړنۍ مرستې ورسره وشي؟

۲- د ناروغ لپاره لومړنۍ مرستې څه اهميت لري؟



**کورنۍ دنده:**

خپل مور اوپلار سره مشوره وکړئ چې دوی کومه ترافيکي پيښه او يا کومه بله پيښه ليدلې ده؟ د پيښې مهم ټکي يادداشت کړئ او هغه لومړنۍ مرستې چې موږده کړي دي هغوی ته ووایاست.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوځیدل




**موخې:**

۱- زده کوونکي باید په دې باندې پوه شي چې کوم شیان د هغوی د بدن د سوځیدو سبب کیږي.

۲- زده کوونکې باید له سوځیدلو کسانو سره لومړنۍ مرستې سرته ورسولای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱- ستاسې په فکر کوم شیان د سوځیدو سبب کیږي؟

۲- روغتون ته د ناروغ له رسولو د مخه څنګه د سوو ټپونو ساتنه کولی شو؟




- تاسې په خپل منځ کې مشوره وکړئ، چې په کور کې کوم شیان د سوځیدو سبب کیږي؟
- څرنګه له سوځیدو څخه مخنیوی وکړو؟
- د سوي درد او سوځیدنه څه ډول کمیدلای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

که چیرې د نه پاملرنې له امله د انسان د بدن په کومه برخه باندې خوټکېدلې اوبه یا سره غوړي توی شي او یا د اور یا د برېښنا د شارټي له امله سوځېدنه رامنځته کېږي، د انسان بدن ته زیان رسېږي،ټپ، تناکې، سوځېدنه او درد پیدا کېږي چې دا ډول زیانونه د سوځېدو د زیانونو په نامه یادېږي.

### لومړنۍ مرستې:

- د سوځېدو له امله باید د زیانمنو کسانو لپاره لاندیني تدبیرونه ونیول شي:

الف: د زیانمنو درد اوخوږ کم کړو (د درد ضد درملو په وسیله یا د کورنۍ د یو مشر غړي په مرسته)

ب: بیهوشۍ ته یې پرې نږدو.

ج: هڅه دې وشي چې ټپونه میکروبي نه شي.

سړې او روانې اوبه د سوي برخې درد کموي او د ټپ د شاوخوا خیرې لیرې کوي.

ددې لپاره چې زیان رسیدلی شخص د درد له کبله بیهوشه نشي مایعات، لکه: اوبه، شربت او نور ورته ډېره ګټه رسوي.

زیاته هڅه باید وکړو چې ټپونه پاک وساتو او د میکروب ضد محلول په وسیله یې پریمنځو، وروسته د پاک بنداژ (د ململ ګاز) په وسیله سسته یې وتړو.

**یادونه:**

باید د سوي ځای تناکې ونه چول شي او چول شوې تناکې د اوبو لاندې ونه نیول شي.

**ارزونه:**


۱- د سوي لپاره د لومړنۍ مرستې د پړاوونو نومونه واخلئ.
۲- څرنګه د سوي درد کمولی شو؟
۳- څرنګه سوی ټپي له عفونت څخه وساتو؟

**کورنۍ دنده:**

د سوي لوست د لومړنۍ مرستې په هکله خپلو کورنیو ته کیسه وکړئ او د هغه په باب چې مو څه زده کړي دي ویې لیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هډوکي ماتیدنه



**موخه:**
زده‌کوونکي باید د هډوکي د ماتیدو په صورت کې له لومړنۍ مرستې څخه ګټه ترلاسه کړای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**
۱ – آیا کوم وخت مو لیدلي دي چې د چا هډوکی دې مات شوی وي؟
۲ – خرنګه وپوهیږو چې په یوه نا څاپه پیښه کې د بدن هډوکی مات شوی او یا بیځایه شوی دی؟

د زده کوونکو فعالیتونه



– که په کومه پیښه کې هډوکي مات شوي وي، خو معلومیږي نه. تاسو څرنګه له هغه سره مرسته کولای شئ. خبرې پرې وکړئ. که چېرته د یو هډوکي د ماتیدو تر څنګ له بدن څخه وینه هم وبهیږي، څرنګه لومړنۍ مرسته ورسره کولای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- ددې امکان شته چې یو هډوکی مات شوی وي، خو ماتیدنه یې څرګنده نه وي. باید وپوهیږو چې د ماتیدو په برخه کې زیات خوږ(درد) او پړسوب پیداکیږي. په ځینو حالاتو کې هډوکی د ماتیدو سره جوخت د خواوشا غړو شکل تغیر مومي او وینه بهیدنه به هم ولري. په دې صورت کې مات شوي غړی بې حرکته ساتو او:
- د اړوند غړی د ټپي شوې برخې د زیاتې وینې بهېدنې مخنیوی کوو.

**لومړنۍ مرستې:**

لومړی باید مات شوی غړی بې حرکته شي او اصلي او طبیعي حالت ته دې راوستل شي چې داکار په خورا دقت سره باید ترسره شي. په ماتې شوې برخې باندې تخته یا صاف لرګی په داسې توګه ځای په ځای شي چې د مات شوي هډوکي او لرګي تر منځ په دوارو خواوو کې مالوچ کېښودل شي.


پس له هغې په کراره او پوره پام وتړل شي او ناروغ روغتون یا کلینیک ته درملنې لپاره ولیږدول شي.

| |
|---|
| **ارزونه:**<br>۱- که چیرې د بدن مات شوی غړی بې حرکته وساتل شي د ناروغ لپاره څه ګټه لري؟<br>۲- څرنګه وپوهیږو چې د ناڅاپي پیښې له امله هډوکی مات شوی دی؟<br>۳- د مات شوي هډوکي په عملیه کې دلرګي او بنداژ کارول څه اهمیت لري؟ |




**کورنۍ دنده:**

په کور کې د مات شوي هډوکي او لومړنۍ مرستې په هکله له خپلو والدینو سره مشوره وکړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوزار (ضربه) او د هډوکي بېځايه کېدل او را وتل





**موخه:**

زده‌کوونکي بايد د هډوکو د ګوزار (ضربو)، راوتلو او بېځايه کېدو په هکله په لومړنيو مرستو باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

١ – آيا پوهېږئ چې په کومو حالتونوکې هډوکي بېځايه کېږي؟

٢ – ستاسې په فکر کله چې هډوکي بېځايه شي څه عمل ترسره کړو؟

د زده کوونکو فعاليتونه



- په خپلو منځونو کې خبرې وکړئ، چې د ماتو شوو هډوکو او بېځايه شوو بندونو ترمنځ څه توپير شته؟
- که د يوې پېښې له امله هډوکي بېځايه شي، په دې هکله له لومړنۍ مرستې څخه څرنګه ګټه اخيستلای شئ؟
- څرنګه له لومړنيو مرستو څخه د بدن پر غړو باندې د ګوزار (ضربې) د رامنځته شوي زيانونو د لږې کېدو په منظور ګټه اخيستلای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- په ځينو پيښنو کې لکه: له ديوال يا له بايسکل څخه لاندې غورځيدل، د آس يا خره لغته خوړل، دغوايي په ښکر لګيدل، يا له ونې څخه لوېدل انسان ته داسې تاوانونه رسوي، چې وينه يې نه بهيږي، خو د زيان رسيدلې برخې تر پوټکي لاندې ځای سور يا شين رنګې کيږي. په دې حالت کې د پوټکي لاندې وينه ټوليږي او د ضربې يا ګوزار وهل ځرګندوي، چې سخت درد لري او په اصطلاح ګزک يا قيصر شوی وي.
- هډوکي د بندونو په واسطه سره نښتي دي. هډوکي په بندونو کې په ځانګړې رشتې خوځنده او کلک ساتل شوي دي. که د ځينو پيښنو له امله نوموړې رشتې له حد نه زياتې کش شي دا حالت د هډوکي د راوتو په نامه ياديږي چې شين رنګ، ډېر درد او پړسوب لري.
- که چيرې د مفصل رشتې د کومې پيښې په وسيله پريکړای شي او د هډوکو سرونه د مفصل له ځای څخه ليرې شي دا حالت د هډوکو د بيځايه کيدو په نامه ياديږي چې نوموړې برخه خورا ډېر درد کوي.

**لومړنۍ مرستې:**

د هډوکي د بيځايه کيدو لپاره لومړنۍ مرستې دا دي چې د بيځايه شوي بند شاوخوا د مالوچو په وسيله وپيچل شي او په بنـــداژ سستـــه وتړل شي او ناروغ ژر د هډوکو ډاکتر ته ورسول شي.

د راوتلو هډوکو لپاره لومړنۍ مرستې په دې توګه بايد ترسره شي:

زيانمن ځای پورته کړای شي او يو پاک ټوکر د سړو اوبو په وسيله لوند شوی وي، کيښودل شي، د راوتلې برخې په ګرد چاپيره باندې پنبه کيښودل شي او توده وساتل شي او نوموړې برخه بايد ونه سولول شي. ددې مرستې د ترسره کيدو وروسته ناروغ کلينيک ته ورسول شي.

د ګوزار خوړلې زيان رسيدلې برخې لپاره لومړنۍ مرستې په دې توګه دي چې:

لومړی بايد زيان رسيدلې برخې د ميکروب ضد موادو، لکه، الکول، ټينچر او نورو په وسيله پاک او وروسته د کريم، واسلين ياغوړيو په واسطه غوړ کړای شي او د پاک ټوکر په وسيله وتړل شي او بيا ناروغ روغتيايي کلينيک ته ورسول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارزونه:**

۱- د هډوکي د بيځايه کيدو او راوتلو لپاره د لومړنۍ مرستې ترتيب بيان کړئ.

۲- د هډوکي ضربه (گوزار) او بيځايه کيدل څه شی دي؟

۳- په بدن کې د زيانونو اثرونه کوم دي او په څه ډول هغه کرار (تسکين) کړو؟




**کورنۍ دنده:**

**ددې لوست د لومړنۍ مرستی په هکله څه چې مو زده کړي دي په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# مار چیچلی



**موخې:**

۱- زده کوونکي د مارچیچلې برخه او نښې باید وپیژني.

۲- زده کوونکي د مار چیچلي لپاره له لومړنیو مرستو څخه باید ګټه واخیستلای شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – آیا تاسې زهر لرونکې خزندې او لړمان لیدلي دي؟

۲ – آیا تاسې پوهیږئ چې د خزندو او ځینو حشراتو چیچل د انسان د مړینې سبب کیږي؟

**د زده کوونکو فعالیتونه**



- په خپلو منځونو کې مشوره وکړئ چې دکوم ډول خزندو و چیچل انسان ته خطر لري؟
- که چیرې د مار، لړم، غالبوزې، غونډل او نورو له چیچلو سره مخامخ شو، روغتون ته تر رسیدو پورې تلف نه شو باید له کومو لومړنیو مرستو څخه ګټه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- یو شمیر زیاتې خزندې او حشرې، لکه: ماران، لړمان، غونډلان، غالبوزې او نور د انسان لپاره د چیچلو خطر لري. د ځینو خزندو چیچل، لکه: زهر لرونکي ماران د انسان ژوند د مرگ له خطر سره مخامخ کوي. په چیچل شوی ځای کې د نیش (لشکه) د نبنې برسیره سوروالی، شین والی او پړسوب هم لیدل کیږي.
- د هغې نبنې له زړه بد والی، سر گرځیدل، کانگې، خولې کول او د نس او سینې برخو کې درد رامنځته کیدل دي.
- دا هم امکان لري چې د چیچلو له ډار څخه انسان بیهوشه شي.
- د لړمانو زهر د مار له زهر څخه لږ خطر لري، خو درد او خاربنت یې بیا ډیر دی.

**لومړنۍ مرستې:**

د مار د چیچلو په وخت کې دې د زهر وله خپریدو څخه د مخنیوي لپاره لومړنۍ مرستې تر سره شي.

د مار چیچلي ځای باید د زړه له سطحې څخه ټیټ کړای شي.

که چیچل شوی ځای په لاس یا پښې کې وي باید له شکل سره سم د یو ټوکر یا دستمال په وسیله له نوموړې برخې څخه لږ پورته وتړل شي ترڅو د وریدونو(رگونو) په وسیله د زړه په لور د زهرو بهیر بند شي.

چیچل شوې برخه باید ډېره ونه خوځول شي. که چیرې له چیچل کیدو څخه ډیر وخت تیر شوی نه وي، نوموړې برخه د پاکې چړې یا د ریږې د پترۍ په وسیله لږ څه پرې کړای شي او د خولې په واسطه زهر لرونکي وینه ودرول شي. (د وینی له بهیر څخه زهر باید وویستل شي) په دې شرط چې د نوموړي شخص خوله ټپي یا ناروغه نه وي.

زیان رسیدلي شخص ته استراحت ورکړ شي او د چیچلو له ډار څخه یې ورته ډاډ ورکړ شي، چې بیهوشه نه شي. د زیان رسیدلي شخص پرمخ باندې اوبه وشیندل شي او د امکان په صورت کې ورته مصنوعي تنفس ورکړ شي او په پای کې خوب ته پرې نه ښودل شي.

**ارزونه:**

۱- د چیچل شوي ځای نبنه او علامه څرنگه وپیژندل شئ؟
۲- د کومې خزندې او حشرې زهر انسان د مرگ له خطر سره مخامخ کوي؟
۳- د مار چیچلي لومړنۍ مرستې څرنگه ترسره کیږي؟


**کورنۍ دنده:**

په کور کې د مار او لړم د چیچلو د لومړنیو مرستو په هکله د ننني لوست په باب له خپل مور او پلار سره خبرې وکړئ د هغوی نظر یې په خپله کتابچه کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکي
## د ژوند چاپيريال

### اوبه



موخې:

۱- زده کوونکي بايد اوبه د ژوند د چاپيريال د جز او د ژوند د عامل په توګه وپيژني.

۲- د اوبو په خواصو باندې بايد وپوهيږي.

۳- په ژوند کې د اوبو په اهميت باندې پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

۱ – ستاسې په نظر اوبه څه شی او له کومو سرچينو څخه ترلاسه کيږي؟

۲ – ستاسې په فکر اوبه کوم ډول خاصيتونه لري؟

۳ – اوبه په ژوند کې څه اهميت لري؟

د زده کوونکو فعاليتونه



– که چيرې تاسې ته اوبه ونه رسيږي څرنګه خپل ژوند ته دوام ورکوئ. په دې هکله په خپلو کې د نظر تبادله وکړئ.

– د خپلو اړتياوو د ليرې کولو لپاره، لکه: څښل، پخلی، پريمنځل او نورو لپاره له کومو سرچينو څخه اوبه ترلاسه کوئ؟ په دې هکله خبرې وکړئ.

– د رودونو، ويالو، چينو او څاګانو اوبه څرنګه رامنځته کيږي. په دې هکله بحث وکړئ.

– په يوه ښيښه يي ګيلاس کې يوڅه اوبه را واخلئ او د هغه رنګ، بوی او خوند وګورئ.



Sc(P)0406

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د ژوند چاپیریال له هغو ټولو طبیعي عواملو او د انسان د اړتیا وړ ژوندیو او نا ژوندیو ده.
- اوبه هغه حیاتي ماده ده چې له هغه پرته هیڅ یو ژوندی جسم (حیوانات او نباتات) خپل
- په طبیعت کې د ځمکې له څلورو برخو درې برخې د سیندونو، رودونو، سمندرګیو، چینو، کاریزونو او نورو نیولې ده.
- د خپل ژوند د اړتیاوو د لیرې کولو لپاره له پورتنیو سرچینو څخه اوبه ترلاسه کوو.
- خالصې اوبه، رنګ، بوی او خوند نه لري.
- اوبه د ژوند د پایښت، کرنې او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ لپاره ډیر اهمیت لري.

باید د ځتلیو د اچولو په واسطه اوبه ککړې او ناولې نه کړو.

- د رودونو، چینو، سیندونو ټولې اوبه له باران څخه رامنځته کیږي، چې یوه اندازه یې د ځمکې پرمخ بهیږي او یو اندازه یې تبخیریږي او نورې یې په ځمکه کې جذبیږي او تر ځمکې لاندې اوبه جوړوي، وروسته د چینو، څاګانو او نورو په واسطه د ځمکې مخ ته راوځي.
- د څښلو لپاره باید له پاکو اوبو څخه ګټه واخیستل شي. که چیرې د ډاډ وړ نه وي لومړی باید وخوټکول شي او وروسته دې فلتر شي.

**ارزونه:**

۱- زموږ په ګران هېواد افغانستان کې رودونه او خوړونه څرنګه جوړیږي؟
۲- د اوبو د ارزښت په هکله څه پوهیږئ؟
۳- تر ځمکې لاندې د اوبو زیرمې څه شي او څرنګه تشکیلیږي؟
٤- د څښلو اوبه ولې ناولې او ککړیږي؟



**کورنی دنده:**

د اوبو یو ګیلاس، یو لوند ټوکر، یو شین نبات تر لمر لاندې په آزاده هوا کې کیږدئ. له یوې یا دوو ورځو څخه وروسته په هغوی کې د اوبو مقدار (اندازه) وګورئ او نتیجه یې یادداشت کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوا



خوځې:

۱- زده کوونکي باید هوا او د هغې برخې وپېژني.

۲- زده کوونکي باید د هوا په خواصو باندې وپوهيږي.

۳- زده کوونکي باید د هوا په حیاتي اهمیت باندې پوه شي.

**هڅوونکي پوښتنې:**

۱ – ستاسې له نظره هوا څه شی ده، آیا په سترګو لیدل کیږي؟

۲ – ستاسې په فکر هوا کوم ډول خواص، یعنې بوی او خوند لري؟

۳ – ستاسې له نظره هوا د ژوند لپاره څه اهمیت لري؟

د زده کوونکو فعالیتونه

– تاسې خو تش پلاستیکي بوتلونه چې سرونه یې تړلي وي را واخلئ او زور یې کړئ.

– آیا په آسانی سره کولای شئ د فشار په وسیله نوموړي بوتلونه منقبض کړئ.

– وروسته د نوموړو بوتلونو سرونه خلاص کړئ او هڅه وکړئ د فشار په وسیله هغوی منقبض کړئ.

– په نوموړو بوتلونو باندې د فشار ورکولو په وخت کې خپله خوله او پزه د بوتل خولې ته ور نژدې کړئ، څه شی احساسوئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- هغه پلاستيکي بوتل چې خوله يې تړلې ده په آسانۍ سره د فشار په وسيله نه منقبض کيږي، ځکه په منځ کې يې هوا وجود لري چې ستاسې د قوې پـه وړانـدې فـشار واردوي.
- هوا له بېلابېلو غازاتو څخه متشکله ده چې په عمده توګه له پنځو څخه څلور برخې يې له نايتروجن او له پنځه څخه يوه برخه يې له اکيسجن څخه عبارت ده.
- هوا رنګ، بوی او خوند نه لري.
- که خپله خوله او پزه بنده کړئ د خپه کېدو او مړينې سبب کيږي.
- ځکه هوا د تنفس او د ژوند د پايښت او د سون د موادو د سوځيدو لپاره حتمي او لازمي ده. له دې کبله د اهميت وړ ده.
- د خپل چاپيريال هوا بايد پاکه وساتو او په خاورو، دوړو، لوګی او نورو شيانو باندې يې ککړه نه کړو او تل بايد پاکه هوا تنفس کړو.
- هوا د نايتروجن او اکسيجن له غازاتو څخه يو مخلوط دی چې په لږه اندازه کاربن ډای اکسايد، خاوره او دوړه هم لري. د ځمکې کره يې سر ترپايه پوښلې ده او له هغې څخه پرته تنفس او د سون د موادو د سوځيدو عمليه امکان نه لري.

**ارزونه:**

۱- که چېرې خپله پزه بنده کړئ څه به راپېښ شي؟
۲- د تنفس او له پاکې هوا څخه د ګټې اخيستلو لپاره څه بايد وکړو؟
۳- د هوا برخې کومې دي او په هوا کې په کوم تناسب وجود لري؟
٤- آيا له هوا څخه پرته تنفس او سوځيدنه امکان لري؟



**کورنۍ دنده:**

۱- يوه بله شمعه په يوه بوتل کې چې په اوبو باندې سرچپه کېښودل شوې وي، ننباسئ او د کتنې نتيجه يې په خپلو کتابچو کې يادداشت کړئ.
۲- د هوا د ارزښت په باب هرڅه چې پوهيږئ، وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاوره



موخې: زده کوونکی باید:
١- خاوره وپیژني.
٢- د خاورې ډولونه وپیژني.
٣- د خاورې په اهمیت وپوهیږي.

**هڅوونکې پوښتنې:**
١- ستاسې له نظره خاوره څه شی ده او څرنګه منځته راځي؟
٢- ستاسې له نظره خاوره څه اهمیت لري؟

د زده کوونکو فعالیتونه



- د زده کوونکو یوه ډله دې ژیړه خاوره (د رس خاوره) له اوبو سره مخلوط او له هغه څخه خمیره برابره کړئ.
- د زده کوونکو بله ډله دې له تورو خاورو (د ویالو ترسبات) څخه خمیره جوړه کړي.
- د زده کوونکو دریمه ډله دې له شګلنو خاورو څخه خمیره جوړه کړي.
- وروسته د خاورو په هره خمیره کې سرېښناکتوب، کشوالی، نرموالی، سختوالی او د لنده بل دوام وګوري او خپلې کتنې دې یادداشت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- خاوره د معدني او عضوي ورستو او تخريب شوو موادو يو مخلوط دی چې نباتات په کې وده کوي او د بېلابېلو غذايي موادو سرچينه تشکيلوي، خاوره په درو ډولونو ده: زيږه خاوره(د رس خاوره)، توره خاوره (د حيواناتو او نباتاتو پاتې شونې) او شګلنه خاوره.
- هغه خاوره چې عضوي مواد د (حيواناتو او نباتاتو) پاتې شونې ولري، پسته يا نرمه وي چې د نباتاتو د ودې لپاره خورا مساعده وي. برعکس په کلکو خاورو کې د نباتاتو وده په ښه توګه ښه نيولی نه شي.
- نباتات په هغو خاورو کې چټکه اوښه وده کوي چې زيات عضوي مواد ولري.
- خاوره ددې لپاره د اهميت وړ ده چې نباتات پکې وده کوي او د انسانانو او حيواناتو غذايي سرچينه او هم ساختماني مواد ور څخه ترلاسه کيږي.

ژوند د چاپيريال يو مهم جز دی او د ژوند اړتياوې ور څخه برابريږي، بايد د هغې د ساتنې لپاره د ونو د کينولو، د ځنګلونو د جوړولو او د ديوالونو د ودانولو له لارې هڅه وکړو چې له تخريب څخه يې مخنيوی وشي.


**ارزيابی :**

۱- خو ډوله خاوره پيژنی؟

۲- کوم ډول خاوره د نباتاتو د ودې او غذايي موادو په جوړولو کې څه اغيزه لري؟

۳- خاوره له کومو موادو څخه او په څه ډول جوړيږي؟

٤- د خاورې د تخريب مخه څنګه نيولای شو؟



**کورنی دنده:**

**ددې لوست مطلب په خپلو کتابچو کې وليکئ**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند له چاپیریال څخه ګټه اخیستنه



موخې:

۱- زده کوونکي باید د ژوند چاپیریال وپیژني.
۲- زده کوونکي باید د ژوند د چاپیریال په جوړونکو عواملو باندې وپوهیږي.
۳- زده کوونکي باید د ژوند چاپیریال د ساتنې پر اهمیت پوه شي.

**هڅوونکې پوښتنې:**

**۱- ستاسې له نظره د ژوند چاپیریال څه شی دی؟**
**۲- د خپل چاپیریال د ښکلا او زرغونیدو لپاره په کوم عملي اقدام لاس پورې کوئ؟**
**۳- ستاسې له نظره د ژوند چاپیریال ساتنه څه اهمیت لري؟**

د زده کوونکو فعالیتونه



- په هغه سیمه کې چې استوګنه په کې لرئ، کوم شیان وینئ؟ په دې هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
- د خپل ژوند د اړتیاوو، لکه خوراک، پوښاک، د څښلو اوبه، د سون مواد او داسې نور له کومو سرچینو څخه ترلاسه کوئ په خپلو منځو کې یو له بل سره بحث او خبرې وکړئ.
- ددې لپاره چې ستاسې د ژوند ضروري مواد په ښه توګه ترلاسه او تامین شي، د هغو په وړاندې تاسې کوم مسؤولیت احساسوئ؟ مشوره وکړئ او و یې لیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متن:

- د ژوند چاپیریال له ټولو هغو شیانو او عواملو څخه عبارت دی چې زموږ په شاوخوا کې پراته دي، لکه: انسانان، حیوانات، نباتات، خاوره، اوبه، هوا، تیږه، لرګي، لمر، سپوږمۍ، سیارې، سمندرونه او نور.
- زموږ د ژوند د اړتیا وړ ټول مواد له همدغو سرچینو څخه ترلاسه کیږي.
- د مثال په توګه نباتي محصولات لکه: غلې، دانې، حبوبات، سابه، لرګي، سکاره او داسې نور له نباتاتو څخه ترلاسه کیږي. نباتات په خاوره کې د اوبو په مرسته وده او له هوا څخه تنفس کوي، چې زموږ چاپیریال زرغون او ښکلی کوي.
- د ژوند چاپیریال له اهمیت څخه ډک دی نو ځکه پرموږ لازم دي چې د خپل ژوند چاپیریال راته ګران وي، د هغې د خاورې، اوبو، هوا، حیواناتو او نباتاتو په ساتنه کې د زړه له کومي مینه وال اوسو او مسؤولانه هڅه وکړو له انسانانو او خپلو همنوعانو سره په صمیمي توګه همکاري وکړو.

**ارزونه:**

۱- هغه اقدامات چې د ژوند د چاپیریال د ناوړه کېدو او د ناروغیو د خپریدو د مخنیوي لپاره اغیزمن دي، نوم یې واخلئ.

۲- د ژوند چاپیریال له کومو عواملو څخه تشکیل شوی دی؟

۳- د ژوند چاپیریال د ژوندیو موجوداتو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره څه اهمیت لري؟

۴- د ژوند دچاپیریال د ساتنې او پاکوالی لپاره کوم اخلاقي او ټولنیزمسؤولیت لرو؟



**کورنۍ دنده:**

د خپل کور او ښوونځي په شاوخوا کې وګرځئ او کوم عوامل چې د هغوی د ککړتیا لامل کیږي، یادداشت کړئ، د هغو د مخنیوي په هکله له خپل مور، پلار او ټولګیوالو سره مفاهمه وکړئ.



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**